شمیرپوهنه (ریاضي)

د یولسم ټولګي لپاره

برېښنا پته : smakhan1946@gmail.com

لیکونکی:

ډاکترماخان میرړي شینواری

2016

جرمني د بن ښار

شمیرپوهنه (ریاضي)

د یولسم ټولګي لپاره

لیکونکی:

ډاکتر ماخان (میرزي) شینواری

زما بریښنا پته:

Smakhan1946@gmail.com

سرلیک

سريزه

دا نړدې څلوېښت کاله کيږي، چې زموږ هيواد هراړخيزه ستونزې لري او هر څه دې اوږده جنګ را خراب کړي

ګرانو هيوادوالو!

د نورو نيمګړتياو په څير زموږ درسي نصاب - په تيره شميرپوهنه - هم ډېره د ناسمون سره مخامخ ده.

که دا کار د دولت په څلورديوالي ونه شو، نو زه به وهڅيږم، چې دا ما ليکلي کتابونه د ن ج له لارې له تاسو سره شريک کړم او دا د نړۍ په ستاندارد.

د ښوونځي په کتابونو کې د ستااتيستيک او احتمالوالي درس نور هم خورا ستونځمن دۍ، چې زه ترې دلته تيريږم او د ښوونځي د تيرو کتابونو څخه هم هيله ده- که زما کتابونه وړاندې نه شو- چې دابرخې يا سمې يا له درسي نصاب څخه ووېستل شي. په دې برخه باور وکړۍ، چې نه ليکونکی بوهيږي او نه بل لوستونکی پرې پوهيدلی شي.

زما په دې د ښوونځي کتابونو کې دا برخې نه شته، خو که وخت مې پيدا کړ دا به هم سمې کړم. ما په دې هکله د احتمالوالي او ستاتيستيک کتابونه ژباړلي او همداسې مې په هندسه کې هم احتمالوالي شميرنه راوړې او د ستاتيستيک يو ګتاب مې هم ژباړلي، چې زه به يې په مناسبوخت کې د ليدلو پتې ګرانو لوستونکو ته د ن ج له لارې ورکړم.

دا زما ځني کتابونه او په ډېره مننه د www.ketabton.com ن ج کې ګرانولوستونکوته وړاندې شوي.

د شميرپوهنې سم اند يا منطق زموږ د نصاب په لسم ټولګي کې راغلی او هغه هم لکه ستاتيستيک او ... د پوهيدلو نه دۍ. دا- لکه څنګه چې برېښي- دومره پيچلی نه دۍ، نو زه دا درس له دې امله د اوم ټولګي په سرکې راوړم، هيله ده چې ستونځې به رامنځ ته نه کړي.

زه چې ترڅو ستاسو په منځ کې وم او د کار یم، ستاسو چوپړ کې به اوسم. راځئ، چې ستونځوبي(د ستونځو حل) سره شریک کړو.

زه دې لیکنو او پرې قضاوت کولو ته ځانله یم.

تکرار په کې زیات دی، خو د موصوع، نه د خودیونې. وایې چې تکرار د زده کړې مورده، نو پروا نه لري. کمښتونه هم په کې شته. سره د ټولو نیګرتیاوو دا د ښوونځي له پاراه ډېره ګټوره او زه چې پوهیږم، یواخنۍ سمه لیکنه ده.

دا چې سمه لیکنه ، د ځان له امله نه وایم، دګرانو زده کوونکو او ښوونکو له پاره وایم. دا زما لیکنې نه دې، دا ما له نورو کتابونو څخه رانیولي، چې باید سمې وي.

زه به وهڅېږم، چې درسمي ښوونځي کتابونو نا سمونونه له تاسو سره شریک کړم، خو ډېر لږ، یواځې داسې د یادونې له امله.

په ډېره خواشینۍ باید ووایم، چې ملاتړی نه لرم، چې د لیکنې ستونځې راته په ګوته کړي.

د نصاب د غړو څخه مې هیله ده، چې ګټه ترې پورته کړي او په بنسټ یې د ښوونځي لیکنې سمې کړي.

د خوندیونې ټیکاوي کې پوښتنه نه شته، ځکه چې ما هم د نورو لیکنو څخه راټول کړي او هڅیدلی یم، چې سم یې ترې راونیسم.

باور وکړی زه د دې لیکنو سره لږ ستړی شوی یم، نو ځنې ځایونه به داسې نیمګړي پاتې وي، چې ستاسو پوهیدنې ته کوم زیان نه رسوي، د هغې بخښنه دې وي.

کله تمرینونه کم وي او کله تکرار راځي، چې دا بد مه ګڼۍ.

په دې کتابونو ما دومره ځان بوخت کړی، چې باورکړۍ مغذ مې ترې نورمور دی، نو له دې امله یې پای نور پایوم یا ورته د پای ټکی ږدم.

شننيزه ځمككچپو هنه(تحليلي هندسه)

تحليلي هندسه:

تحليلی هندسه(وکتورهندسه هم) د هندسي يوه برخه ده، چې د هندسي پرابلمونو د حل د پاره د الجبري مرستندوی موادو (په تولیزه توګه له کرښيز الجبر) څخه جمتو کوي. دا په ډېرو حالتونو کې ممکن کوي، چې ځمككچيزې پوښتنکونې سوچه شميرنيز حل کړي، بې له دې چې ليد يې مرستې ته راوبولي يعنې چې شکل څنګه برېښي يا دئ.

دا برخه مويوڅه په لسم ټولګي کې ولوسته اودا نوره بيدلته د څيدنې لاندې نيسو.
دا برخه د نصب د ښوونځيرخهکېډ مخروطيمقاطع ترنامه راغلي،چې ماته يې دا بديلبنه برېښي،ځکه چې د نړی يا لږ تر لږه الماني ادبياتوکې د دېنامه لاندې راغلي.

بيضوي(هګی) يا ايليپسی Die Ellipse

بيضوي يا ايليپسی د ټولو هغو ټکو P ډيرئ ده، د کومو واټن چې له دوه ټينګ په ځايټکو، داسی په نامه د ايليپسی د سوزونټکويا محراق F1 او F2 څخه ثابت وي. دا سوزونټکی د څيرې ۱۶ . ۱۱ سره سم د -y محور سره سيومتريك دx - محور باندې ځايوو يا ږدو او د ثابت واټنزياتون ليکو:

$$\underline{PF}1 + \underline{PF}2 = 2a \qquad (16.18)$$

د سوزونټکو واټن دې وي:

$\underline{F}1F2 = 2e;$



ښېره ۱۶ . ۱۱

دا e لاینې اکسڅنتریڅیتي(Exzentrizität دا یوناني کلیمه ده چې په الیپسی هوپربول او پارابول کی د همدغه تعریف لپاره تاکل شوې) بلل کیږي .
د پیتاګوراس له جملی لاس ته راځي:

$$\underline{PF}_1 = \sqrt{(e+x)^2 + y^2}$$

او

$$\underline{PF}_2 = \sqrt{(e-x)^2 + y^2}$$

او له دې سره له (۱۶ . ۱۸)

$$\sqrt{(e+x)^2 + y^2} = 2a - \sqrt{(e-x)^2 + y^2}$$

$$e^2 + 2ex + x^2 + y^2 = 4a^2 - 4a.\sqrt{(e-x)^2 + y^2} + e^2 - 2ex + x^2 + y^2$$

(څلورۍ یا مربع ته جګیږي)

$$ex - a^2 = -a\sqrt{(e-x)^2 + y^2}$$ (ریښه رابیلیږي

(څلورۍ یا مربع کوو)

$$e^2x^2 - 2exa^2 + a^4 = a^2(e^2 - 2ex + x^2 + y^2)$$

ترتیب اوړون $(a^2 - e^2)x^2 + a^2y^2 = a^2(a^2 - e^2)$

په ځاي کوو

$$a^2 - e^2 = b^2 \qquad (16.19)$$

او لاس ته راوړو

$$b^2x^2 + a^2y^2 = a^2b^2 \qquad \Leftrightarrow$$

$$(x^2/a^2) + y^2/b^2) = 1 \qquad (16,20)$$

د منځټکي(M(0,0سره د ایلیپسی منځټکي مساوات

د $y=0$ لپاره دی $x=\pm a$، د $x=0$ لپاره دی $y=\pm b$. ایلیپسی (ځیره ۱۶ ، ۱۱)

د x - محور په ټکو $A1(-a,0)$, $A2(a,0)$ او د y - محور په ټکو

$B1(0.-b)$, $B2(0,b)$ کی پرې کوي، aاو b د دواړو نیمحورونو اوږدوالی دی

<table>
<tr>
<td>لکه د الیپسی د هرټکي لپاره، همداسی د Bلپاره هم اړیکی (۱۶ ، ۱۸) باور لري:
$\underline{F1B2} + \underline{F2B2} = 2a$

د $\underline{F1B2} = \underline{F2B2}$ له امله له دې لاس ته راځي $\underline{F2B2} = a$

ځیره ۱۶، ۱۲)</td>
<td>

Bild 16.12</td>
</tr>
</table>

له دې سره په دریګوډي MF2B2 کی د اړیکو (۱۶ ، ۱۹) هندسي ارزښت پیژندل کیږي.

که منځټکی M کواوردینات Mx ; My ولري او د ایلیپسی محورونه د کواوردیناتو سره غبرګ وځغلي، نو د ایلیپسی د یوه خوښې ټکي(P(x,yلپاره باور لري:

$$(x-xM)^2/a^2+(y-yM)^2/b^2=1 \qquad (16\ ,2\ 1)$$

د ایلیپسی د منځټکي مساوات د منځټکي $M(x_M, y_M)$ سره

د پورته فرمول ځلولو وروسته د ایلیپسی ټولیز(عمومي) جوړښت پیژندل کیږي.

$Ax^2+By^2+Cx+Dy+E=0$ (16 , 22)

د ایلپسی مساواتو ټولیزه بڼه یا - فورم

د ګردۍ برابرون سره په توپیر(پرتله یا مقایسه ۱۶ . ۱۲) د x^2 او y^2 ځله وونی یا ضریبونه یو له بل توپیر لري، مګر همغه مخنخښه لري($A.B > 0$)

بیلګه ۱۶ . ۱۶ :

د د ایلیپسی منځټکی، نیممحور، او سوزونټکي لټول کیږي، که دا برابرن

$$9x^2 + 25y^2 -54x +100y -719 = 0$$

مو مخ ته پروت وي.

اوبنونه : د ایلپسي برابرون د منځټکي بڼه یا فورم (۱۶ . ۱۲) باندې اړول کیږي:

$$9(x^2-6x)+25(y^2+4y) = 719$$

څلورۍ پوره کونه یا مربعتکمیلونه

$$9(x^2-6x+9)+25(y^2+4y+4) = 719+9.9+25.4$$

$$9(x-3)^2 +25(y+2)^2 = 900$$

(په ۹۰۰ ویش)

$$(x-3)^2 / 100 + (y+2)^2 / 36 = 1$$

د لاس ته راوړلو مساواتو څخه منځټککواوردینات

$$xM = 3 , yM= -2$$

لوستلکیږي او د نیممحور لپاره $a^2=100$, $a=10$ او $b=6$, $b^2=36$ لوستل کیږي.

د (۱۶ . ۱۹) سره سم لاس ته راځي:

$$e = \sqrt{a^2 - b^2} = \sqrt{100-36} = \sqrt{64} = 8$$

او له دې سره منځټکي (پرتله څیره ۱۶ ، ۱۱)

$$F_1(x_M - e, y_M) = F_1(-5,-2), F_2(x_M + e, y_M) = F_2(11,-2)$$

بیلګه ۱۶ . ۱۷ :

د ایلپسي برابرون د منځټکي (M(-1,3 سره لټول کیږي، په کوم چې ټکي(P1(-3,3او

$P_2(0,3+\frac{3}{2}\sqrt{3})$ پراته وي.

اوبونه : د (۱۶ ، ۲۱) سره سم د منځتکي(M(-1,3 سره د ایلپسي براورن داسی دي

$(x-1)^2 / a^2 + (y-3)^2 / b^2 = 1$

ټیکي P1 او P2 باید د ایلیپسي برابرون پوره کړي:

$$\frac{(-3+1)^2}{a^2}+\frac{\sqrt{(3-3)^2}}{b^2}=1, \frac{(0+1)^2}{a^2}+\frac{(3-3-\frac{3}{2}\sqrt{3})^2}{b^2}=1$$

د دې برابرونونو له لومړی څخه لاس ته راځي $4/a^2 + 0 = 1$ همداسی(< = >)
a = 2 او له دې سره د دویم برابرون څخههمداسی < = >

$$\frac{(0+1)^2}{4}+\frac{(-\frac{3}{2}\sqrt{3})^2}{b^2}=1 \Leftrightarrow$$

$$\frac{\frac{9}{4}.3}{b^2}=3/4 \Leftrightarrow b=3$$

د ایلیپسی لټونکی برابون داسی دی:

$(x+1)^2/4 + (y-3)^2/9 = 1$

بیلګه ۱۶ . ۱۸ :

د کرښو
الف) $y = x + 2$
او ب) $y = x - 2$
غوڅټکي د ایلپسی $9x^2+y^2+54x+72=0$ سره لټول کیږي.
اوبیونه : که الف) $y=x+2$ د ایلپسی برابرنونو کی خوندي شي، نو لاس ته راځي

$9x^2+(x+2)^2 +54x+72=0$ <=> $10x^2+58x+76 = 0$

د څلوری - یامربع برابرونونو اوبی :

$x1 = -2 , x2 = -3,8$

د غوڅټکي ابسځیز یا پروتمحور دی. په دې پورې اوردینات یا ولاړ محور

$y1 = 0 , y2 = -1,8$
اړه لري.
ب) دy رامدځ ته شوې څلورى(مربع) برابرون
$9X^2+(x-2)^2+54x+72 \Leftrightarrow 10x^2+50x+76=0$
رييل اوبيونه نه لري. کرښه $y = x-2$ د ايليپسې څخه دباندې پرته ده

هوپربول Die Hyperbel

پېژند:
هوپربول يا هيوپربل د ټولو هغو ټکو ډيرى ده، د کومو لپاره چى د کمون يا کمښت مطلقه ارزښت واټن، د دوه کره په ځاي ټکوF1 اوF2 ،دا په نامه د هوپربول سوزونټکو

يامحراقونو، څخه ثابت وي. دا سوزونټکي ، لکه په ايليپسى کى دلته هم موږ کره ټاکو (څيره ۱۶ . ۱۳) .
د ثابت واټنکمون يا واټنکمښت| $\underline{PF1}-\underline{PF2}| = 2a$ او (ځيره ۱۶ . ۱۳)
د سوزونټکوواټن) $\underline{F1F2} = 2e$ (څيره ۱۶ . ۱۳)
$$e^2-a^2= b^2 \qquad (16.23)$$
په پورته کې يا بل چيرې، چې کوم څه لاندې کرښيز شوي وي، دا په زياتو ادبياتو کې پورته کرښيز شوي، دې ته دې پام وي، چې لاندې کرښيز شوي وي او که پورته، توپير نه لري يا همغه څه دي.
يو ايليپسى برابرون ته ورته تلنه (برخۀ ۱۶ ، ۱۳) مو لاندې ته لارښودوي:

$$(x^2/a^2)-(y^2/b^2)=1 \qquad (16 . 24)$$
د هوپربول منځټکي برابرون د منځټکي (M(0,0 سره



د y=0 لپاره x=±a دى ، دا په دې مانا چې هوپربول د x - محور په ټکي

(A1(-a,0 او(A2(a,0کی غوڅوي. دا ټکی ککری ټکی بلل کیږي۰ ګورو چی دا دککری ټکی دئ .(د ناپای سره ځاننیونی په هکله: که (۱۶ . ۲۴) د y په لور حل شي، نولاس ته راځي:

$$y = \pm b.\sqrt{\frac{x^2}{a^2}-1} = \pm\frac{b}{a}.x.\sqrt{1-\frac{a^2}{x^2}}$$

د oe ± <- x لپاره a²/x²- له منځه ځي. پس هوپربول ځان کرښی y = ±(b/a).x ته نزدې کوي (ځیره ۱۶ . ۱۴)
له دې امله لاندې برابرون

$$y = \pm(b/a)x \qquad (16,25)$$

د هوپربول اسیمپتوتی بلل کږي.
د (۱۶ . ۲۳) له امله MQ = e دی .
که منځټکی M کواوردینات xM ,yM ولري او سیومتریك غبرګ د کوردیناتو محور ته ځغلي، نو د یوه په خوښه هوپربول ټکي(P(x,yلپاره باور لري:

$$(x-x_M)^2/a^2-(y-y_M)^2/b^2=1 \qquad (16,26)$$

د هوپربول منځټکي برابرون (M(xM ,yM سره.

د پورته مساوات د ځلولو وروسته، په لاندې ډول د هوپربولمساوات ټولیز جوړښت جوتیږي.

$$Ax^2+By^2+Cx+Dy+E=0 \qquad (16,27)$$

دهیوپربول برابرون ټولیزه بڼه یا فورم
دلته د ایلیپسی سره په مخامخ (همدا برعکس دئ) یا په ځټ ډول د x² او y² ځلهووني بدله مخښه لري
(A . B < 0) ټولیز برابرون هم کولی شي چی موږ لاندې منځټکي برابرون ته لارښود کړي،

$$(y-y_M)^2/b^2-(x-x_M)^2/a^2=1 \qquad (16,26')$$

د کومو ځیره چی یو پورته لور او کښته لور ته واز هوپربول دئ.

بیلګه ۱۶ . ۱۹:
د لاندې هوپربول منځټکی او سوزونټکی لټول کیږي

$-25x^2 -150x+144y^2 -188y +144 = 0$

اوبیونه: د ورکړشوي هوپربولمساوات بنه په منځ ټکي (۱۶ . ۲۶) اوړي یعني فورم یی بدلیږي:

$-25(x^2+6x)+144(y^2+2y) = -144$

(د څلوری پوره کونه)

$-25 (x^2+6x+9)+144(y^2-2y+1) =-144-225+144$ $-25(x+3)^2 + 144(y-1)^2 = -225$

(په 225 - ویشنه)

$-25(x+3)^2+144(y-1)^1 = -225+(x+3)^2 / 9 -(y-1) /(25/16) = 1$

د لاس ته راغلومساواتوڅخه لاندې لوستل کیږي:

$xM = - 3 ,yM = 1 ,a^2 = 9 , a = 3 , b^2 = 25 /16 , b = 5/ 4$

او د دې سره سم د (۱۶ . ۲۳) له امله لرو:

$$e = \sqrt{a^2 - b^2} = \sqrt{144/16 + 25/14} = 13/4$$

د هوپربول منځټکی (M(-3,1دی ، سوزونټکي یی

(F1(xM-e,yM)=F1(-25/4,1 او (F2(xM+e,yM)=F2(1/4,1 دي.

بیلګه ۱۶ . ۲۰ :

د هوپربول $9x^2-4y^2=36$ اسیمپټوتي یو له بل سره کوم کونجونه ترې یعنی جوړوي یا اسیمپټوتی په کومو کونجونو کی یو بل پریکوي؟

اوبیونه : هوپربول د منځټکي بنه (فورم) له (۱۶ . ۲۴) سره سم په لاندې ډول ده $x^2/4-y^2/9=1$ یا د $a=2 ,b=3$ سره

له دې سره سم دواړه اسیمپټوتی د(۱۶ . ۲۵) له مخی $y=(3/2)x$ او $y=-(3/2).x$ دي.

د لومړی اسیمپټوتی او x - محور ترمنځ کونج φ د $\tan\varphi = 3/2, \varphi = 56,31°$ څخه لاس ته راځي.

له دې امله د اسیمپټوتو ترمنځ کونج ψ باور لري $\psi = 2\varphi = 112,62°$ داکونج کیدی شي د هوپربول د وازونکونج په نامه ونومول شي.

سرلیک

بیلګه ۱۶ . ۲۱ :

د ایلیپسی $x^2/64+y^2/16=1$ غوځتکي د هوپربول سره لټول کیږي چی منځ ټکي یی په سرچینه او ککرتګي یی د ایلیپسی په سوزونتکو پراته وي او همغه ارزښت b لکه ایلیپسی ولري.

اوبیونه : د ایلیپسی نیممحور په a1 او b1 سره او لاینیزه اکسڅینتریڅیتي یی په e1سره ښایو.

نو باور لري: $a1=8$, $b1=4$ او د (۱۶ . ۱۹) سره سم دی.

$$e_1 = \sqrt{a_1^2 - b_1^2} = \sqrt{48} = 4\sqrt{3}$$



Bild 16.15 شکل

د هوپربول لپاره نخښی e_2, a_2, b_2 کاروو:

باورلري (پرتله څیره ۱۶ . ۱۵) : $b_2 = b_1 = 4, a_2 = e_1 = 4\sqrt{3}$

او د (۱۶ . ۲۳) سره سم دی $e_2^2 = \sqrt{a_2^2 + b_2^2} = 8 = a_1$

د هوپربولبرابرون داسی دی:

$$x^2 / 48 - y^2 / 16 = 1$$

د غوڅتکو کواوردینات د ایلپسی- او هوپربولمساوات پوره کوي. که داوړه مساوات سره زیات شي نو لاس ته راځي

$$(\frac{1}{16}+\frac{1}{48})x^2=2, x^2=348/7, x_{1,2}=\pm 8\sqrt{\frac{6}{7}}$$

د ايليپسي او هوپربولبرابرونونو ځخه لاس ته راځي

$$y^2 = 16(1- x^2/64)=16/7 <=> y^2= 16(x^2/48 -1)=16/7=>$$

$$\Rightarrow y=\pm 4\sqrt{1/7}$$

او د دې سره سم د دواړو کږو غوڅټکي دي:

$$P_1(8\sqrt{6/7}), P_2(-8\sqrt{\frac{6}{7}}, 4\sqrt{\frac{1}{7}}), P_3(-8\sqrt{\frac{6}{7}}, -4\sqrt{\frac{1}{7}}), P_4(8\sqrt{\frac{6}{7}}, -4\sqrt{\frac{1}{7}})$$

پارابول Die Parabel

پارابول د ټولو هغو ټکو P ډيرئ ده، چې واټن يې له يوه کلك په ځاي ټکی، د پارابول سوزون ټکیF، او يوې کلك په ځاي کرښی، د پارابول ترمخکرښی l (داپه ښيره کی جوته ده چې دا کومه کرښه ده) سره مساوي دي(ښيره ۱۶ . ۱۶) د سوزونټکی او مخکرښی ترمنځ واټن نيم پارامتر p بلل کيږي، Sککری ټکی دی،کرښه چې له S او F تيريږي د پارابول محور دی.

له پيژند – يا تعريف برابرونونو = $\underline{PF}$ $\underline{PQ}$ځخه لاس ته راځي

$$\sqrt{(x-\frac{p}{2})^2+y^2}=x+\frac{P}{2}$$

او له دې ځخه د مربعکولو او د ټولګی ځخه لاس ته راځي

$(x-p/2)^2 +y^2 =$
$(x+p/2)^2$,

$x^2-px+p^2/4+y^2 = x^2+px+p^2/4$



Bild 16.16

نو لرو

$$y^2 = 2px \qquad (16,28)$$

د پارابول ککربرابرون د ککرنکي $S(0,0)$ سره، پورته لور ته واز $(x > 0)$

په همدې ډول:

$$y^2 = -2Px \qquad (16 , 29)$$

هغه وکیڼ لور ته واز پارابول دئ د واریابلو د بدلون څخه لاس ته راځي:

$$(16 . 30) \qquad x^2 = 2py$$

د پارابول ککرمساوات د ککرټکي $S(0,0)$ سره، پورته واز پارابول $(y > 0)$

په همدې توګه:

$$x^2 = -2py \quad (Y<0) \qquad (16.31)$$

پورته لور ته واز پارابول دئ.

که ککرنکي S کواوردینات xS , yS ولري او د پارابول محور د x - محور ته غبرګ ځغلی په همدې ډول د y - محور ته هم غبرګ ځغلي، نو د یوې په خوښه پارابول ټکی لپاره باور لري:

$$(16. 32) \qquad (y - yS)^2 = 2p(x-xS)$$

د پارابول ککریبرابرون د ککری ټکی$S(xS,yS)$ سره، چی ښئ لور ته وازوي$(x>xS)$

$$(x - xS)^2 = 2p(y - yS) \qquad (16.33)$$

د پارابول ککریبرابرون د ککرټکي$S(xS,yS)$سره، چی پورته لور ته واز وي $(y> yS)$.

په همدې ډول:

$$(y - yS)^2 = -2p(x - xS) \quad (x<xS) \quad (16.34)$$

$$(x -xS)^2 = -2p(y - yS) \ (y<yS) \quad (16.35)$$

هغه کڼ لور او همداسی کوزې یا لاندې لور ته واز پارابولونه دي

د فرمول (۱۶ . ۳۲) همداسی (۱۶ . ۳۳) ځله ونو څخه وروسته د پارابول ټولیز (عمومي) جوړښت پیژندل کیږي:

$$Ay^2+Bx+Cy+D= 0 \ , B |=0 \qquad ((16, 36)$$

همداسی(< = >)

$$Ax^2+Bx+Cy+D=0 \ , C|=0, \qquad (16 . 37)$$

د پارابولمساوات ټولیزه (عمومي) بڼه (فورم)

بیلګه ۱۶ . ۲۲ :

د پارابول برابرون دې له ککریټکی ، له نیمپارامتر او وازلورې څخه پیداشي:

الف $S(,0,0), P = 6$)کیڼ، ب $S(2,1)\ ;P= 0,5$) پورته

پ $S(-3,-5), P = 4$) لاندې ت $S(4,-2)\ ,P= 2/3$) ښی

اوبیونه یا حل:

الف) $y^2 = -12x$ ب) $(x-2)^2 = y-1$

پ) $(x+3)^2 = -8(y+5)$ ت) $(y + 2)^2 = (4/3)(x-4)$

بیلګه: د پارابول د لاندې مساوات سره دې د پارابول د ککرټکي کواوردینات ، نیمپارامتر او د وازون لور وټاکل شي

$a) (x^2 + 4y +20x + 10 = 0,\ b)\ y^2 -18x + 12y -36 = 0$.

اوبیونه : د پارامترټولیزه بڼه (فورم) دې په ککرییرابرون (۱۶ ، ۳۲) همداسی(۱۶ ، ۳۳) همداسی (۱۶ ، ۳۴) همداسی (۱۶ ، ۳۵) کی وازمایل شي (څلوری پوره کیدنه یا مربع تکمیلیدنه) . د ککرییرابرون څخه ککریټکي ، نیم پارامتر او وازلور لوستوړ دي.

a) $x^2 + 20x +100 = -4y -100 + 100$

$(x+10)^2 = -4y\ S(-10, 0), P = 2$

پارابول لاندې لور ته و از دی

b) $y^2 + 12y +36 = 18x +36 + 36$

$(y+6)^2 = 18(x+4)$

$S(-4,-6), P = 9$

پارابول ښی لور ته واز دی

۱۶ . ۶ ټولګه:

دا له ۱۶ . ۱ نیولی تر ۱۶ . ۵ پورې خیرل شوې دهوارې کږې (کږی په هوارې یا سطحه کی)

-کرښه

-ګردی

-ایلیپسی چی د کواوردینات محور سره غبرګ ځغلي، ټول د لاندې مساوات

-هوپربول

-پارابول

په خیر انځوریږي:

$Ax^2 + By^2 + Cx + Dy + E = 0$ (16 , 38)

فاکتورونه، ضریبونه یا ځله وونې A او B د کړی د توکو لپاره پرېکنده دي.

برابرون (۱۶،۳۸) لاندې روښانوي

د $A.B > 0 , A \neq B$ لپاره ایلیپسی ،

د $A = B$ لپاره گردئ

د $A.B < 0$ لپاره هوپربول، که $A > 0 , B < 0$ وي، نو کیڼ لور ته واز،

که $A < 0 , B > 0$ وي، نو پورته او لاندې لورته واز

د $A.B = 0 , A = 0 , B \neq 0$ لپاره یو پارابول، چی محور ئی د x - محور سره غبرگ دئ د $A \neq 0$ ، $B = 0$ یو پارابول ، چی محور یی د y - محور سره غبرگ دئ

د $A = B = 0$ لپاره یوه کرښه‌که په (۱۶ . ۳۸) یو بل گډوله(یو د بل سره گډ شوی) ځلوری توکي رامنځ ته شي، نو دا د کړې یو ځلوری برابرون یا مربع مساوات ښکاروي (توضیځ کوي) ، د کومو محورونه چی نور د کواوردیناتو محورونو سره غبرگ نه دي.

بیلگه ۱۶ . ۲۴ :

له لاندې مساواتو سره کومی کړې انځوریدلی شي ؟

a) $x^2+y^2+4x-8y-5=0$ b) $3x^2+24x+15y+138=0$

c) $16x^2+y^2-96x=0$,d) $2x^2-2y^2+16x+10y-105/2=0$?

اوبیونه : (یادونه : لکه د نورو ځایونو په څیر دلته هم الف د a په ځاي لیکم ، ځکه چی د پښتو لپاره کرښه په لاتین حروفو له ښي لور نه شي پیل کیدی)

الف یاa) که $A = B = 1$ وي ، نو گردئ

ب یاb)که $B=0$ پارابول چی محور یی د-y محور سره غبرگ وي

پ c)که $A.B > 0$، $A \neq B$ نو ایلیپسی

تd)که$A.B < 0$ ، نو هوپربول

تمرینونه:

کرښي $y = (4 /3)x +2$ سره غبرگ څغلي؟

۲۰ – د ایلیپسي مساوات وټاکئ. له

i) M(0,0), a 11, c = 8 , B) M(0,0), b = 4 , c = 6 ,

:) M(-3,7), c = 4 , b = 5 , d) M(4, -5) , c = 7 , a = 10!

۲۱ – د لاندې ايليپسيمساواتوڅخه د نيممحوررونو اوسوزونتکو منخټکی او اوردوالی راپیداکړی:

a) $x^2 / 100 + y^2/ 64 = 1$ b) $(x+3)^2 / 81 + (y-1)^2 / 56 = 1$

c) $3x^2 + 4y^2 -24x >= 0$, d) $5x^2 +9y^2 -10x + -90y + 50 = 0$,

e) $4x^2 -13y^2 -208 = 0$, f) $4x^2 +9y^2 +54y -227 = 0$!

۲۲ – د هغو ایلیپسو مساوات راپيداکړی، کومې چې

الف) چې منخټکی M (0,0) او لايتي ایکسځنتريځيتي e = 6 لري او
ټکی P(10.0) څخه تيرځي،

ب) له منځټکی M (1,1) او لاينې ايکسځنتريځيتی e = 4 لري او له
ټکو څخه تيريږي.

پ) د نيممحور اوږدوالی a = 9, b = 6 لري او له ټکو $P_1(2,8)$, $P_2(2,-4)$ څخه
تيريږي!

ت) د نيممحوراوږدوالی a = 2 , b = 6 لري او له ټکو($P_1(-1,-4)$, $P_2(-5,-4$
څخه تيريږي!

---

۲۳ – د لاندې ايلپسو او کرښو ترمنځ غوځټکي پيدا کړی

a) $x^22 +4y^2 -20 = 0$, $x+2y-6 = 0$,

b) $3x^2 +4y^2 -24x =$, $y = 3 .x$,

c) $(x-3)^2/ 9 +(y-1)^2 / 4 = 1$, $y = x+1$,

d) $x^2 + 4y^2 +16y +12 = 0$, $y = x-2$!

۲۴ – د هوپربول مساوات له

لف) b M(0,0) , a = 4 , e = 5 , ب) M(-3,2), b = 4 , e = 6 ,

پ) M(1,1) او هوپربولټکو $P_1(-3,1)$, $P_2(6 , 7 /4)$!

ت) a = 3 , b = 2 , x = -1 او د هوپربولټکي P(-4,-2) وټاکی !

۲۵ – د هوپربولونو

a) $x^2 / 144 - y^2 / 36 = 1$, b) $9x^2 - 64y^2 = 576$

نیممحورونواوړدوالی او اسیمپتوتي راپیدا کړی !

۲۶ – د لاندې هوپربولونو منځتکي او د نیممحور اوږدوالی پیداکړی

a) $9x^2 - 64y^2 - 36x - 540 = 0$, b) $x^2 - 9y^2 + 54y - 90 = 0$,

c) $x^2 - 4y^2 + 4x - 8y - 16 = 0$, d) $x^2 - y^2 - 2x + 10y - 28 = 0$!

۲۷ – د لاندې مساواتو سره دکړو غوځتکي وټاکی:

a) $\frac{x^2}{25} - \frac{y^2}{9} = 1$, $y = \frac{1}{5}x$,

b) $4x^2 - 9y^2 = 144$, $x^2 - 24y = -28$,

c) $\frac{x^2}{9} - \frac{y^2}{4} = 1$, $y = -\frac{2}{3}x - 5$,

d) $4x^2 - 9y^2 - 8x + 36y + 68 = 0$, $9y^2 - 36y - 72x + 8 = 0$,

e) $\frac{x^2}{16} - \frac{y^2}{4} = 1$, $x^2 - y^2 = 16$!

۲۸ – د لاندې پارابولونو ککرتکو اوسوزونتکو کواوردینات وټاکی:

a) $5y^2 + 4x = 0$, b) $2y - (1/2)x^2 = 0$ c) $4y + (1/3)x = 0$,

d) $2y^2 - 12x = 0$, e) $y^2 - 2y - 10x - 9 = 0$, f) $x^2 - 7x - y + 12 = 0$

g) $y^2 - 6y + 6x - 3 = 0$. h) $x^2 + 4x + 12y 52 = 0$

۲۹ – د پارابولمساوات له لاندې ککرتکو او سوزونتکو وټاکی:

S (0,0), F(0,1) , b) S(0,0), F(-1,0), c) S(1,1) , F(2,1),

S(-1,-1), F(-2,-1), e) S(2,-3), F(2,-2), f) S(-2,3), F(-2,2)

۳۰ – یو پارابول د ککرې پروت ارزښت $x_s = 3$ لري، کرښه $y = 8$ د محور په ځ

تکي P (7,4) تیریږي. ددې مساوات څنګه دي؟

۳۱ – یو پارابول د ککرکواوردینات $y_s = -3$ لري، کربښه $x = 2$ د محور په څیر او له ټکي $P(4,-4)$ تیریږي. د هغې مساوات څنګه دي؟

۳۲ – کوم پروتڅاي اړیکی د

الف) پارابول $y^2 = -4x$ او کربښی $y = x-1$

ب) پارابول $x^2 = 5y$ او کربښی $y = x-4$

پ) پارابول $x^2 = -3y$ او کربښې $y = x + 5/12$

ت) پارابول $y^2 - 6x - 2y + 7 = 0$ اوکربښي $y = x$

ټ) پارابول $y^2 = 7x$ او کربښې $9x + 12y + 28 = 0$

ترمنځ پرتی دي؟

که موجود وي ، نو غوڅټکی همداسې لمستکی یې ورکړی!

د پارابول او کربښي غوڅټکي

بیلبیلګه:

یوه د پلو لار د یوه جګ سرک لاندې تللې او هغې ته غبرګه.

د یوه پله په پښه چې د پارابول بڼې په ډول لیندې دې د پلو لار د یوې مایلسطحې جوړه شوي، چې سرک ته پورته ځي.

د دې مایل سطحې د په ولاړو پښو جګوالی وټاکی.

د پارابول څخه فقط پوهیږو، چې د بڼې ضریب $a_2 = -1/20$ لري.



په پورته کې Hochstrasse جګ سرک

Fussweg د پلو لار

Stützpfeiler د درېدو- یا تکیه ستنې یا متې (پرېوداولو ستنې یا متې)

د مودل جوړونه Modellierung



تابع مساوات لیکنه

مایلهواره یا - سطحه(د کربنې په ډول) په سرچینه او P(50;10) کې.

$$\Rightarrow a_1 = \frac{10}{50} = \frac{1}{5} \Rightarrow g(x) = \frac{1}{5}x$$

د پله لینده یا که غواړۍ قوس(پارابول) د ککرۍ $S(30|10)$ او $a_2 = -\frac{1}{20}$ سره .

ککرۍ ټکي بڼه	$\Rightarrow f(x) = -\frac{1}{20}(x-30)^2 + 10$
ټوليزه بڼه	$\Rightarrow f(x) = -\frac{1}{20}x^2 + 3x - 35$

د دې له پاره چې د دې په ولاړو ستنو جګوالی لاس ته راوړو د پارابول سره د کرښې غوڅټکو ته اړتيا لرو.

د غوڅټکو شمېرنه؛

اينوونه: $f(x)=g(x)$ يا $f(x)-g(x)=0$

$$\Rightarrow -\frac{1}{20}x^2 + 3x - 35 - \frac{1}{5}x = -\frac{1}{20}x^2 + \frac{14}{5}x - 35 = 0$$

څلوريز يا مربعمساوات يا - برابرون

$$-\frac{1}{20}x^2 + \frac{14}{5}x - 35 = 0 \,|\cdot(-20)$$
$$\Leftrightarrow x^2 - 56x + 700 = 0 \Rightarrow p = -56\,;\; q = 700$$
$$\Rightarrow D = \left(\frac{p}{2}\right)^2 - q = (-28)^2 - 700 = 84$$
$$x_{1/2} = -\frac{p}{2} \pm \sqrt{D}$$
$$\Rightarrow x_1 = 28 + \sqrt{84} \quad \vee \quad x_2 = 28 - \sqrt{84}$$

د متو يا ستنو جګوالی د اړونده y ارزښتونه دي.

$$y_1 = g(x_1) = g\left(28 + \sqrt{84}\right) = \frac{1}{5}\left(28 + \sqrt{84}\right) \approx \underline{\underline{7,433}}$$
$$y_2 = g(x_2) = g\left(28 - \sqrt{84}\right) = \frac{1}{5}\left(28 - \sqrt{84}\right) \approx \underline{\underline{3,767}}$$

د متې h_1 جګوالی 3,764 m دی، د ستنې h_2 جګوالی 7,433 m دی.

که د يوې کرښې غوڅټکی د پارابول سره ټاکل کيږي، دا مو تل يوه مربع مساوات ته بيايي.

24

غوڅووني يا قطع کو ونی، مماس، تيرېدوني

د کارقرارداد:

د پارابول$f(x)$ غوڅټکي د يوې کرښې $g(x)$ سره وټاکی او هر دواړه ګرافونه په يوه مناسب پروتولاړسيستم کې وکاږی.

د پارابول د رسمولو لپاره د ککرۍ ټکي بڼه وکاروی.

$f(x) = x^2 + 4x + 1$ همداسي د ککرۍټکي بڼه کي : $f(x) = (x+2)^2 - 3$

a) $g(x) = 2x + 3$ b) $g(x) = 2x$ c) $g(x) = 2x - 2$

د پارابول او ګرښې غوڅتکي
د داړو مساواتو د ضريبونو د ورکړې وروسته، غوڅتکي شمېل کيږي، بيا کېدی شي دواړه ګرافونه وکښل شي.



د $g(x)$ کرښه د $f(x)$ ګراف په دوه ټکو کې غوڅوي. غوڅووني بلل کيږي.

$$f(x) = g(x) \Leftrightarrow f(x) - g(x) = 0$$
$$\Leftrightarrow x^2 + 4x + 1 - 2x - 3 = 0 \Leftrightarrow x^2 + 2x - 2 = 0$$
$$\Rightarrow p = 2;\ q = -2 \Rightarrow D = \left(\frac{p}{2}\right)^2 - q = 1 + 2 = 3$$
$$\Rightarrow x_1 = -\frac{p}{2} + \sqrt{D} = -1 + \sqrt{3} \approx 0{,}73$$
$$x_2 = -\frac{p}{2} - \sqrt{D} = -1 - \sqrt{3} \approx -2{,}73$$
$$g(x_1) = 2\cdot\left(-1 + \sqrt{3}\right) + 3 = 1 + 2\sqrt{3} \approx 4{,}46$$
$$g(x_2) = 2\cdot\left(-1 - \sqrt{3}\right) + 3 = 1 - 2\sqrt{3} \approx -2{,}46$$
$$\Rightarrow P_1\left(-1 + \sqrt{3} \mid 1 + 2\sqrt{3}\right) \approx \underline{\underline{P_1(0{,}73 \mid 4{,}46)}}$$
$$P_2\left(-1 - \sqrt{3} \mid 1 - 2\sqrt{3}\right) \approx \underline{\underline{P_1(-2{,}73 \mid -2{,}46)}}$$



د g(x) کرښه د f(x) ګراف په یوه ټکي کې لمسوي.

$$f(x) = g(x) \Leftrightarrow f(x) - g(x) = 0$$
$$\Leftrightarrow x^2 + 4x + 1 - 2x = 0 \Leftrightarrow x^2 + 2x + 1 = 0$$
$$\Rightarrow p = 2;\ q = 1 \Rightarrow D = \left(\frac{p}{2}\right)^2 - q = 1 - 1 = 0$$
$$\Rightarrow x_{1/2} = -\frac{p}{2} = -1$$
$$g(x_{1/2}) = 2 \cdot (-1) + 3 = -2$$
$$\Rightarrow \underline{\underline{P_{1/2}(-1|-2)}}\ \text{Berührungspunkt}$$

پورته: د لمستکی یا مماستکی

یوه کرښه چې ګراف په تیک یوه ټکي کې لمسیږي تانجنت یا لمسووني بلل کیږي



$$f(x) = g(x) \Leftrightarrow f(x) - g(x) = 0$$
$$\Leftrightarrow x^2 + 4x + 1 - 2x + 2 = 0 \Leftrightarrow x^2 + 2x + 3 = 0$$
$$\Rightarrow p = 2;\ q = 3$$
$$\Rightarrow D = \left(\frac{p}{2}\right)^2 - q = 1 - 3 = -2\ \text{keine Lösung}$$

کرښه g(x) د f(x) سره ګډ ټکی نه لري.

داسي یوه کرښه تېرېدوني بلل کیږي.

د تمرين بيلګو څخه پيژندل کيږي، چې غوڅټکو ګڼون يا تعداد، چې يوه کرښه يې له پارابول سره لري د ديسکريمينانت څخه سيده لوستل کيږي.

$D > 0: \Rightarrow$ $D = 0: \Rightarrow$ $D < 0: \Rightarrow$	پارابول او کرښه په دوه ټکو کې سره غوڅوي پارابول او کرښه سره په يوه ټکي کې لمسوي. پارابول او کښه ګډ ټکی نه لري.

پوښتنې

پارابول او کرښه II

لومړی:

يو پارابول د تابع $f_1(x)$ سره له يوې کرښې د تابع $f_2(x)$ په ټکو P_1 او P_1 کې غوځيږي، چېرته چې P_1 هغه خورا ټيټ ټکی باید وي. کرښې ته ولاړکونجیز د تابع $f_2(x)$ سره يوه دويمه کرښه د تابع $f_3(x)$ سره ځغلي چې له ټکي P_2 تيريږي.	$f_1(x) = \left(x + \frac{7}{2}\right)^2 - 6$ $f_2(x) = x + \frac{7}{2}$

وشمیرئ:

الف- د کرښې او پارابول غوڅټکي P_1 او P_2 .

ب – تابع $f_3(x)$ چې $f_2(x)$ ته ولاړکونجیزه ځغلي.

پ - توابعو ته ګرافونه وکاږئ.

دويم: پارابول $f(x)$ د y په لور داسې راکاږئ، چې کرښه g لمس کړي.

$$f(x) = 0{,}5x^2 + 3x \,; \qquad\qquad g: 2y - 4x + 8 = 0$$

د $f(x)$ راکښنه وشمیرئ او لمس ټکی.

دریم:

يو پارابول د تابع $f_1(x)$ سره له يوې کرښې د تابع $f_2(x)$ په ټکو P_1 او P_1 کې غوځيږي، چېرته چې P_1 هغه خورا ټيټ ټکی باید وي. کرښې ته ولاړکونجیز د تابع $f_2(x)$ سره يوه دويمه کرښه د تابع $f_3(x)$ سره ځغلي چې له ټکي P_2 تيريږي.	$f_1(x) = \left(x - \frac{7}{2}\right)^2 - 6$ $f_2(x) = -x + \frac{7}{2}$

وشمیرئ

الف- د کرښې او پارابول غوښتکيP_1 او P_2 .

ب – تابع $f_3(x)$چې $f_2(x)$ ته ولاړکونجيزه څغلي.

پ - توابعو ته ګرافونه وکاږۍ.

څلورم: يو تابع $f(x) = -\frac{3}{2}x^2 + 3x + \frac{9}{2}; x \in \mathbb{R}$ ورکړ شوی

الف- سچينيزه کرښه $g(x)$ د $A(1 | 6)$ له لارې ځغلي.

د غوښتکي$f(x)$ د $g(x)$ سره وشميرۍ.

ب- د $g(x)$ سره کومه غبرګه $f(x)$ لمسوئ؟

لمستکی و شميرۍ.

د $g(x)$ سره کومه غبرګه د $f(x)$ سره غوښتکی نه لري.

پنځم: يو پارابول د اوردينات محور(y –محور) په P_1 کې غوڅوي او په ټکو P_2 او P_3 کې له يوې کرښې د تابع$f_1(x)$ سره غوڅوي. دا وشميرۍ:

الف- ټکيP_2 اوP_3 ب- د $f_2(x)$ تابع پارابول. پ-د $f_2(x)$ ککرۍ ټکی. ت-ککرۍ ټکی. ټ- د محور غوښتکي	$f_1(x) = \frac{5}{3}x + \frac{5}{9}$ $P_1\left(0 \middle| -\frac{25}{9}\right); P_2(2 \mid y_2); P_3(-3 \mid y_3)$

شپږم:

یو پارابول او یوه کرښه د هغه د ارزښت جدول سره ورکړ شوي دي. پارابول او کرښه یو بل سره څنګه پراته دي؟

په کومه ورشو یا ساحه کې پارابول د کرښې پورته لور ته ځغلي؟

x	-3	-2	-1	0	1	2	3
$f_1(x)$	-6	0	4	6	6	4	0
$f_2(x)$	-1	0	1	2	3	4	5

پوښتنې

پارابول او کرښهIII

لومړی:

کرښه g(x) د مساوات

$g(x) = -2x$

سره پارابول f(x) په سرچینه کې لمسوي.

د a_1 د کومو ارزښتونو لپاره سرچینه پېژه

کرښه د مساوات $g(x) = a_1 x$ سره د f(x)

سره دوه همداسې یو ګډ ټکی لري؟



دویم: د دواړو پارابولونو د غوځټکو کواوردیناتونه وټاکی.

الف- $f(x) = x^2 + 3x; \quad g(x) = 0,5x^2$

ب - $f(x) = 2x^2 - 4x + 8; \quad g(x) = x^2 + 2x - 1$

پ - $f(x) = 0,5x^2 - 2x - 1; \quad g(x) = 2x^2 + 2x + 1$

29

سرلیک

ت - $f(x) = -x^2 + 3x - 1,5; \quad g(x) = -x^2 - x + 2,5$

دریم: دوه پارابولونونه د توابعو $f_1(x)$ او $f_2(x)$ سره په ټکو P_1 او P_2 کې سره غوڅوي.

$$f_1(x) = -\frac{3}{5}x^2 - 5x - \frac{32}{5}; f_2(x) = \frac{14}{15}x^2 + \frac{86}{15}x + \frac{14}{5}$$

وشمیرې:

الف- د ټکو P_1 او P_2 کواوردیناتونه یا پروتولاړ-یامحور ارزښتونه.

ب – د ترونکربښې [P_1 P_2] تابع.

پ – د دواړو پارابولونو صفرځایونه.

ت – د پارابولونو غوڅټکي د y محور سره.

ټ – د پارابول$f_1(x)$ ککرۍ بڼه او ککرۍ ټکی.

ث – د پارابول$f_2(x)$ ککرۍ بڼه او ککرۍ ټکی.

ج – په یوه پروتولاړ- یا کواوردینات سیستم د درې توابعو ګرافونه رسم کړۍ.

څلورم: د $f(x)$ او $g(x)$ د ګډو ټکو پرواته ولاړ ارزښتونه یا کواوردیناتونه وشمیرۍ.

$f(x) = -0,5x^2 + 2; x \in \mathbb{R}$

الف- $g(x) = x^2 - 3x + 3,5$ ب - $g(x) = -x(x-2)$

پ - $g(x) = -\frac{1}{9}(x-1)^2 + 1$ ت - $g(x) = \frac{1}{4}(x^2 - 3x + 2)$

پنځم:

دوه پارابولونه د تابع $f_1(x)$ او $f_2(x)$ سره په ټکو P_1 او P_2 کې سره غوڅوي. دا وشمیرئ؛	$f_1(x) = (x+1)^2 - 1$ $f_2(x) = \frac{1}{2}x^2 + 2x + \frac{11}{2}$

الف- غوڅټکي P_1 او P_2 .

ب – د غوڅکرښې [P_1 P_2] تابعمساوات د $y = f_3(x)$ سره.

پ – ککرۍ ټکي S_1 او S_2 .

ت – په یوه پروت ولاړسیستم یا کوبوردیناتسیستم کې د تابع ګراف وکاږئ.



۲ - پرلپسی او پرلپسی لړی(لنډ: لړی sequences and series)

۲ . ۱ - پیل

د میلاد څخه دري سوه کاله د مخه یوه یوناني جنګسالار(نوم یی راڅخه هیر شوی، ددې بخښنه غواړم) خپلو عسکرو څخه وپوښتل چی ، »دا د ده له مخه کیشپ چی سل متره یی ترمنځ واټن دی، کله نیولی شي، که دی له دې کیشپ سل ځله تیز ولاړشي؟« دې ته طبعآ د لوستنکو فکر شته چی وخت باید په نظر کي نه وي نیولشوی . ځوابولو ته دې ګران لوستونکی پخپله فکر وکړي.

موږ ددې برخی څیرنی سره لوړې شمیرپوهنی ته راځو. داسی هم نه ده، ځکه چی موږ د رییل ګڼونو تعریف سره سم چی هلته مو د اینتروالبندولو باندې خبرې کړي او په دې توګه مو رییل ګڼ تعریف کړی دی، د شمیرپوهني لوړه څیرنه وه. همدا ډول د لاینې مساواتو شمیرل او داسی نورې پوره دلوړې شمیرپوهني بیلګي لرو، خو دلته دا په ګوته کوو چی له دې ځایه د شمیرپوهنی هغه ځاي پیل کیږي چی شمیرپوهنیز فکر مو په پراخه توګه په کار اچولو ته راهڅوي او له دې امله مو د وړاند نیونه(لنډ: نیونه) یا فرضیه اړیینه وه چی دا برخه د لوړو شمیرپوهنو پیل په څیر وښایو.

له دې ځایه هغه ګڼونه چی موږ ورسره مخ کیږو، څموږ لپاره د څیرنی کیږي چی هغوي یوې پولی(حد) ته هڅه کوي. دا قوانین هم پوره څیرل کیږي چی وروسته بیا په دیفرنڅیال شمیرنه کی کار اخستلو لپاره ترې تیریدنه ناشونی ده.

په راتلونکی برخه کی لاندې کنځيپتونه (خيال، چې يو څه څنګه وشي) ځمونږ لپاره د هڅی وړ ګرځي
١ - د کليمی ليدوړه يا په خيال کی لرودونکی پيلونه
٢ - د ليدوړوالي يا فکر کی راوړيدونکی د ټولو په غوره شننه (تحليل)
٣ - د شميرپوهنيزو ټاکندو(پيژندو) يا تعريفونو ټيکوالی،
٤ - هغو وړاندنيونو يافرضيو ته پاملرنه چی د شميرپوهنی قوانينو د باوريتوب (اعتبار)لپاره وي،
٥ - د پرلپسی شننه، چی پوله ارزښت يی په پام کي ونه نيول شي،
٦ - د ګڼو دندو اوبی ، په ځانګړي توګه د ديفرنځيالولو او اينتګرالولو
٧ - بالاخره د پرلپسی لړۍ چی په لنډه توګه ىی لړۍ بولو څيړنه .
دلته هم ددې موضوع د پوره څيړلو ستونځې په کتاب کی د ځاي کموالي له امله شته.

داچی دا برخه يوه بنسټيزه برخه ده، نو پيل يی د يوې ساده او پوهوړې بيلګې له لارې کوو چي ماته خورا په زړه پورې هم ښکاريږي.

دګڼونو پرلپسی يا ګڼونپرلپسې (لنډ: پرلپسی) کليمه

پيلبيلګه :

پاي زياتون $s = 3+7+11+...+395+399$ څنګه ټاکل کيدی شي؟
کيدی شي چي دا د پوره ستونځو سره د يوګونو ګڼونو يو په بل زياتون له لارې وشميرل شي ترڅو چي ددې ګڼونپرلپسی قانونيت پيداشوی وي:
هر دوه ګاونډې توکي يوله بله په۴ + توپير کيږي يعنی کمون يا کمښت يي ۴ + دی. کيدی شي چی دا کارونه (استعمال) په يوه شکلی او سيماوړ لاره هم مخ ته لاړه شی او دا په لاندې ډول :

که لومړی (٣) او اخر(٣٩٩) ، دويم (٧) او له اخر دويم (٣٩٥) دريم (١١) او له اخر دريم (٣٩١) زياتوني او داسی نور سره زيات شي. دا په دې ټولو حالتونو کی همغه زياتون ارزښت يا د جمع لاس ته راوړنه ورکوي يعنی ۴٠٢ .
اوس دې د يوګونو زياتوونو زياتون ارزښت راپيداشي:

دویم غړی له لومړی غړي داسی لاس ته راځي چی لومړي غړي ته ۴ ور زیاتیږي او همداسی ورپسی تر n غړي پورې چی دلته و (n-1) ته 4 ور زیاتیږي ، یالنې -n) = n. 1)+4 :
که له دې لاس ته راوړنی لومړی غړی له اخر غړي کم کړو یعنی3- 399 = 396 ، نو ددې کمون سره د (n-1) دا 4 ځله ترې لاس ته راځي. داچی 99 = 396:4 دي، نو باید n او له دې امله د پرلپسي د غړو شمیر 100 وي. په دې لاس ته راوړنو سره باید 100 ګڼونه سره زیات شي. که چیرې په پورته توګه 2 زیاتووني سره زیات شي، نو باید له دې سره 100:2 = 50 یعني 50 -ځله زیات 402 ترې لاس ته راشي« له دې امله د ټولو رامخ ته شوو د پرلپسی غړو زیاتون دا دی: 50 . 402 = 20100•

دا لوستونکو ته په روڼنی ژوند کی هم څرګنده ده لکه د یو ټولګي د زدکوونکو په ګڼه (نمره) ترتیب، یا په یوه سیالی یا مسابقه کی د بریالیو ترتیب او داسی نورموجود دي، موږ کوښښ کوو چی دا مسئلی د شمیرپوهنی له لارې وڅیړو او وګورو چی په شمیرپوهنه کی پرلپسی څه شی دي.
موږ پیداینښتي یا طبعي ګڼونه ۱، ۲، ۳، ۴، ..... لرو (دلته ټکي ټکي دا مانا لري چی دا پرلپسی ناپای اوږدیږي)
که چیرې دا هر پیداینښتي یا طبعي ګڼ په یواځنی یو رییل ګڼ ترتیب شي یا یواځنی ترتیب رییل ګڼ وښایي یعنی ....a1 , a2, a3 ,a4، نو د لته د پیداینښتي یا طبعي ګڼونو او رییل ګڼونو تر منځ یو ترتیب منځ ته راځي. داچی دلته هر طبیعي ګڼ n په یواځنی رییل ګڼ an ترتیب شوی نو دا ترتیب یو فنکشن دی چی د فنکشن ټاکوندیرۍ (تعریفدیرۍ یا پیژنددیرۍ) دطبعي ګڼونو ډیرۍ N ده او ارزښتدیرۍ یی د رییل ګڼونو ډیرۍ R ده.

دلته د پرلپسی هر توکی an د ځای ګڼې (نمرې) n په بنسټ یواځنی ټاکلی، چی n ته په مسلکي نړیواله پیژندل شوې ژبه ایندکس Index (زیات یې Indices)، چې مانا یې : پیژند نخښنه ده ، وایي. (Index پیژند دخښنه)
که چیرته په لیکنو یا نوره هم ښه د پرلپسي په لیکنو کې .....,a1,a2,a3 ولرو، نو دا په لاندې مانا دي:

$a_1, a_2, a_3, ...$

که چیرې ناسمه ترې پوهیدنه منځ ته راتلله، نو بیا یې لیکنه په هغه اصلي توګه لیکم٠

ټاکونکی (پیژند، تعریف) :۱۸ . ۱ الف :
د پرلپسی غړو ak.....,a1, a2 , a3 د یو ترتیب قانونیت یا قانونمندي(an=a(n لاس ته راځي ، که دnلپاره پرلپسی پیداینښتي یا طبعي ګڼونه 1, 2,3 k...,ځای په ځای شي.

پرلپسی کې a1 د پرلپسی پیل غړی بلل کیږي. که د پرلپسی اخر غړي پای وي نو پرلپسی پای او که نه نو پرلپسی ناپای ده.

بیلګې

(دا ورپسې مخ کې بیلګې نورې هم روښانه دي)

$$I-;...a_n = n^2, a_1 = 1; a_2 = 4;....; a_{10} = 100,..; a_k = k^2;..$$

(چېرته چې an یو څلوری (مربع) ګڼ دی D=N;W={an|

2 – {an}={1/n} => an=1/n,a1=1;a2=1/2;…;a10=1/10 ,
{ak}={1/k}… .

3 - $\{a_n\}=\{(-1)\} \Rightarrow a_n=(-1)^n; a_1= -1; a_2=1;$

$a_3= -1,...a_{17}=-1;...a_{22}=1$

د دې پرلپسی غړي بدلی نخښی لري، له دې امله پرلپسی بدلیدونکی Altrnating بلل کیږي

4 - {an}={3+1/n},3+1/2 ;3+1/3;3+1/4 ;...3+1/k;...an=3+1/n

د ترتیب – یا نظمقاعدې څخه مختلفی ګڼونپرلپسی منځ ته راځي ۰ دا مو په لنډه توګه پرلپسی ونومولی. چی پیژند یی یو ځل بیا دلته په بل ډول راالنډوو.

تاکونی(تعریف) ۱۸ . ۱ :

که هر یو طبیعي ګڼ..... n=1,2,3,4,5 په یوه یو یواځني رییل ګن باندې ترتیب یا تنظیم شي، نو په ترتیب ګڼونه .... a1,a2,a3,a4 یوه د ګڼونو پرلپسی جوړوي، چی لنډ پرلپسی یی نوموو او ددې لپاره سړی داسی لیکي {an}.

دې an ته د پرلپسې {an} غړی ویل کیږي.

سړی کړی شي چی د رییلګڼونو د نمره کولو یا ګڼې لپاره له 0 یا 2 او حتی له 1 - یا 2 - څخه پیل وکړي، یعني:

a-1,a0,a1,a2.....یا a2,a3,a4.... او a0,a1,a2....یا

ګورو چی د پرلپسی لیکلو لپاره ځانګړي متودونه په کار اچول کیږي، کله دا کفایت کوي چی د پرلپسی تعریف لپاره د پرلپسی لمړي څو غړي ولیکل شي

بیلګه ۱۸. ۱ : د بیلګې په توګه لیکو:

35

سرلیک

$\{an\}$: 1, ,2 , 3 , 4 ....

او د طبعي ګڼونو پرلپسی موخه یا مطلب دی د جوړولوقانون an = n سره ، نو

$\{an\}=\{n\}$.

$\{an\}:1,4,9,16,25... \Rightarrow \{an\}=\{n^2\}$

دا په دې مانانا چی(=>)

$\{an\}:2,3/2,4/3,5/4,6/5 .... \Rightarrow$

یا په دې مانا چی$\{an\}=\{(n+1)/n\}$

$\{an\}:1,1/2,1/3,1/4,1/5,1/6 ... \Rightarrow$

په دې مانا چی $\{a_n\}=\{\frac{(-1)^{n-1}}{n}\}$

$\{an\}:1,1/2,1/3,1/4,1/5,.. \Rightarrow$

یانې په دې مانا $\{an\}=\{(n+1)/n\}$

پیلبیلګه:

دشمیرپوهنی یوه ښوونکی لپاره په ښونځي کی یو ځاي تش یا خالي دئ. ددې ځاي لپاره دوه کسانو الف او ب ځانونه کاندید کړی. دوي ته لاندې پوښتنه ورکړ شوي چی اوبی یی کړي:

پنځه ګڼونه ۱،۳،۷،۱۵،۳۱ ورکړ شوي. درې نور ګڼونه باید داسی ور واچوی چی دا ګڼونپرلپسی موخه وره یا هدفمنده مخ ته ولاړه شي، یا مخودیزه شي.

دواړه کاندیدان دا دنده یا پوښتنه په بیلو ډولونو اوبی کوي ۰

کاندید الف داسی فکر کوي ۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰ کاندید ب داسی فکر کوي

لومړی ګڼ ۱ دئ ۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰ لومړی ګن له ۲ څخه په ۱ کوچنی دئ:

2 - 1

دویم ګڼ لاس ته راځي، که د لومړي ۰۰۰۰۰۰۰ دوم ګڼ له ۴ څخه ۱ کوچنی دئ :

ګڼ دوه ځله ته ۱ ورزیات کړو : ۰۰۰۰۰۰۰۰۰ $2^2-1=4-1$

$2.1+1=3$

دریم ګڼ لاس ته راځي که د دوم ۰۰۰۰۰۰۰۰ دریم ګڼ له ۸ په ۱ کوچنی دی:

ګڼ دوه ځله ته ۱ ور زیات شي۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰$2^3-1=8-1$

$2.3+1=7$

۶- ام ګڼ لاس ته راځي که د پنځم۰۰۰۰۰۰۰۰ ۶ -ام ګڼ له ۶۴ څخه په ۱ کوچنی دئ :

ګڼ دوه برابره ته ۱ ور زیات کړو: .... $64-1=2^6-1=63$

$a_{k+1}=a_k{}^2+1$

2.31 + 1 = 63

اوم ګڼ دی .... اوم ګڼ دی: $2^7-1=128-1=127$

2.63 + 1 = 127

ګڼ ۸ دی .... ګڼ ۸ دی

)...........2.127 -1 = 255 $2^8-1=256-1=255$

د شمرپوهنی له مخی دا پنځه له مخه ورکړشوي ګڼونه د یوې پرلپسی لومړني پنځه توکي دي. دا پنځه توکي له

a1 , a2 , a3 , a4 , a5,

سره ښایو.

اوس زموږ په دې بیلګه کی داسی لرو: a1=1,a2=3,a3=7,a4=15,a5=31

که وغوښتل شي چی د دې پرلپسی نور توکي دې هم ورکړ شي، نو دا به تصادفي توکي نه وي، بلکه یوه جوړه شوې قاعده یا لاس ته راوړې قاعده به ورکړي، لکه څنګه چی یو په بل پسی راتلونکی توکی د پخوانی او یا له وروستني توکي څخه د مخه توکی په لاس راځي.ددې تثبیت یا ازمویني وظیفی شمیرپوهنیزه فرمولبندې په لاندې ډول ده:

د ګڼونپرلپسی دې د a1=1,a2=3,a3=7,a4=15,a5=31 سره ورکړ شوي وي.

یوجوړښتقانون یا قانونمندي او توکي a6,a7,a8 وټاکی.

د دواړو کاندیدانو د اوبیوني لارې یا حللارې کیدی چی په لاندې توګه انځور شي:

ب	الف
$a_1 = 2 - 1 =$	$a_1 = 1$
$a_2 = 4-1 = 2^2 -1 = 3$	$a_1 = 2.1 + 1 = 3$
$a_3 = 8 - 1 = 2^3 - 1 = 7$	$a_3 = 2.3 + 1 = 7$
. .	. .
$a_6 =$ $2^6 - 1 = 63$	$a_6 = 2.31 + 1 = 63$
$a_7 =$ $2^7 -1 = 127$	$a_7 = 2.63 + 1 = 127$
$a_8 =$ $2^8 -1 = 255$	$a_8 = 2.127 + 1 = 255$

په ټولیزه (عمومی) توګه لاس ته راځي

k -م غړی $(k \in N \wedge k \geq 2)$ k-م غړی $(k \in N)$

په کوم کی چی .... په کوم کی چی

د(k-1)- م غړي ته 1 زيات شي .... 1 له $a_k = 2^k$ کم شي

$a_k = 2.a_{k-1} + 1$ $a_k = 2^k - 1$ ....

دواړو کانديدانو پرابلم سم اوبی کړ. کله چی د پرلپسی ۲۰ - م غړي پوښتنه وشوه ، نو کانديد ب په کټه کی دی . ولی؟

دواړه کانديدان کولی شي چی د پرلپسی هر په خوښه توکی پيداکړي، له دې امله دوي دا پرلپسی پواځنی وټاکله. کانديد الف دا پرلپسی داسی حل کوي چی تل بايد له مخه غړي څخه وړپسی توکی لاس ته راوړي، يعني $a_k = 2.a_{k-1} + 1$

دا بايد هر د پرلپسی د مخه توکی وپيژني. دې ډول شميرلو ته د پرلپسی رکورسيو(recursive لاتين، له recure په څټ څغاسته) انځورونه وايی . مګر ب کانديدات دا خورا ساده او زر شميرلی شي، دی چې کوم توکي غواړي پيدا کړي، هغه سملاسي لاس ته راوړی شي يعني $a_k = 2^k - 1$

دې ډول ښوونلار ته ايکسپليځيت explizite (لاتين خورول، روښانوول) يعنی روښانه انځورونه وايي.

د لوستونکو لپاره دې دا لاندې د کور کا وي:

د پرلپسی ۲۰ - ۱م غړی وشميری ، رکورسيو او ايکسپليځيت. يانی د الف او ب په څير.

بيلګه:

يوه پرلپسی د $a1 = 5$ او $a_{k+1} = a_k{}^2 + 1$ سره ورکړ شوې. ددې پرلپسی لومړنی پنځه توکي وشميری.

اوبنونه يا حل:

$$a_1 = 5$$
$$a_2 = a_1^2 + 1 = 25 + 1 = 26$$
$$a_3 = a_2^2 + 1 = 676 + 1 = 677$$
$$a_4 = a_3^1 + 1 = 458329 + 1 = 458330$$

بیلګه :

یوه پرلپسی د $a1 = 1$ او $a_{k+2} = a_{k+1}.a_k$ سره ورکړ شوې ده.
ددې پرلپسی لمړني پنځه غړي وشمیری .
اوبنونه:

$a_1 = 1$

$a_2 = 2$

$a_3 = a_2.a_1 = 2.1 = 2$

$a_4 = a_3 \, . \, a_2 = 2.2=4$

$a_5=a_4.a_3 = 4.2=8$

پوښتنی:

د هرې لاندنی پرلپسی لمړني ۱۰ غړي وشمیری پرلپسې رکورزیو ورکړ شوې

a) $a_1 = 2, \; a_{k+1} = \frac{1}{a_k}$

b) $a_1 = 0, \; a_{k+1} = a_k^2 + 1$

c) $a_1 = 2, \; a_{k+1} = \frac{1}{a_k} + 1$

d) $a_1 = 1, \; a_{k+1} = \frac{1}{2} a_k + 1$

e) $a_1 = 2, \; a_{k+1} = \frac{1}{2}\left(a_k + \frac{2}{a_k}\right)$

f) $a_1 = 1, \; a_2 = 1, \; a_{k+2} = a_{k+1} + a_k$

g) $a_1 = 1, \; a_2 = 2, \; a_{k+2} = a_{k+1}^2 \cdot a_k$

h) $a_1 = 1, \; a_2 = -2, \; a_{k+2} = a_k : a_{k+1}$

بیلګه :

یوه پرلپسی د $ak=k^2/(k+1)$ سره ورکړ شوې ده .د دې پرلپسی لومړني پنځه توکي وشمیری
اوبی:

$a_1 = \frac{1^2}{1+1} = \frac{1}{2}$ $\quad a_2 = \frac{2^2}{2+1} = \frac{4}{3}$ $\quad a_3 = \frac{3^2}{3+1} = \frac{9}{4}$

$a_4 = \frac{4^2}{4+1} = \frac{16}{5}$ $\quad a_5 = \frac{5^2}{5+1} = \frac{25}{6}$

بیلګه :

پرلپسی د $a_k = \frac{(-1)^k + 1}{k}$ سره ورکړ شوې ده .د دې پرلپسی ۳ -م، ۸ -م ۱۵ -م او ۲۰ -م توکي وشمیری

اوبی

$$a_3 = \frac{(-1)^3 + 1}{3} = 0$$

$$a_8 = \frac{(-1)^8 + 1}{8} = \frac{1}{4}$$

$$a_{15} = \frac{(-1)^{15} + 1}{15} = 0$$

$$a_{20} = \frac{(-1)^{20} + 1}{20} = \frac{1}{10}$$

پوښتنی :

د لاندې پرلپسیو لومړني پنځه توکي ، ۲۰ -م او ۴۵ –م توکي وشمیری

$$a)a_k = 2k+1; b)a_k = k^2 + k; c)a_k = \frac{k^2+1}{k+1};$$

$$d)a_k = \frac{k^2-1}{k+1}; e)a_k = (-\frac{1}{10})^{k-1}; f)a_k = 1-(1/2)^k;$$

$$g)a_k = 1+(-1/2)^k; h)a_k = 1.2.3....k$$

په کارتیزي کواوردیناتسیستم کی د یوې پرلپسی د ګراف انځورونه لاس ته راوړو، که هر توکی د x -کواوردینات باندې د پرلپسی هر توکی د توکي نمرې k سره کیښنول شي او د y- کواوردینات باندې هر غړی د غړې د نمرې ak سره و کښل شي	 Bild 4

پوښتنی :

د لاندې پرلپسیو ګراف په کارتیزي کواوردیناتسیستم کی وکاږی.
له دې ځایه وروسته بیا پیل دی

a) $a_k = \frac{5k}{k+2}$ b) $a_k = 3k + 2$ c) $a_k = (-1)^{k-1} \cdot \frac{12}{k}$

d) $a_k = \sin\frac{k\pi}{2}$ e) $a_1 = \frac{1}{2}, a_{k+1} = 1 - 2a_k$ f) $a_1 = 1, a_2 = 1, a_{k+2} = a_{k+1} \cdot a_k$

مونوتونی پرلپسی

بیلګه : د غړو $ak = 2k - 1$
(ما کله کله توګی او کله کله غړی نومونه کارولی، په په پرلپسی کې یو غړی د پرلپسی غړی دی او د یوې ډیری چې یو د هغې ډیری توکی دی)
سره پرلپسی هر توکی د مخته تیرشوي توکي لوي دی . دا باور لري:
$ak+1 > ak$ د ټولو $k \in N$ لپاه

اوبیونه) :

$$\begin{aligned} a_{k+1} &= 2^{k+1} - 1 \\ &= 2.2^k - 1 \\ &= 2^k + 2^k - 1 \\ &= 2^k + (2^2 - 1) \\ &= 2^k + a_k \\ &> a_k \end{aligned}$$

تعریف ۱۸ . ۲ الف:

یوه پرلپسی(strictly monotonic increasing)
په کلکه – یا کره مونوتون جګیدونکی ده یا کره مونوتو جګیږي، که دا لاندې باور ولري :

د ټولو $k \in N$ لپاره ak+1> ak
که د يوې پرلپسی لپاره باوري وي
د ټولو $k \in N^*$ لپاره ak+1 $\geq$ ak
نو دلته د مونوتون جګيدونکی monotonic increasing پرلپسی څخه غږيږو

بيلګه :
د پرلپسی د توکو
ak = 10 - 4k
سره هر غړی د مخ ته تير غړي څخه کوچنی دی.
لرو:
ak+1 < ak د ټولو $k \in N^*$ لپاره
اوبښونه::

$$
\begin{aligned}
ak+1 &= 10 - 4(k+1)\\
&=10 - 4k - 4\\
&=(10-4k)-4\\
&= ak - 4\\
&< ak
\end{aligned}
$$

ټاکونی (پيژند تعريف) ۱۸ . ۳ :
يوه پرلپسی په کلکه مونوتونټيټيدونکی يا - لويدونکی strictlymonotonic decreasing ده، که لاندې باور ولري:
د ټولو $k \in N$ لپاره ak < ak+1
که په يوه پرلپسی کې باور ولري(په پورته کې او همداسې که ورپسې داسې څه راشي کا د ان توکی دی)
د ټولو $k \in N$ لپاره a1 $\leq$ ak+1
نو دلته د موتون لويدونکی- يا مونوتون ټيټيدونکیmonotonicdecreasing پرلپسی څخه خبرې دي.

پوښتنه:
د يوې پرلپسي دوه ګاونديو غړو توپير يا کمون ياکمښت ak+1 - ak، کوم شرطونه بايد پوره کړي، چې دا لاندې صدق ولري
الف) کلکه مونوتون جګيدونکی وي
ب) کلکه مونوتون ټيټيدونکي يا ـلويدونکې وي
پ) مونوتون جګيږي

ت) مونوتون لوېږي؟

ددې دندې د اوبیونې په مرسته کیدی شي، چې د توکي aK=(k+1)/(k+2)سره د پرلپسی مونوتونی په لاندې ډول وښوول شي:

$$a_{k+1}-a_k=\frac{(k+1)+1}{(k+1)+2}-\frac{k+1}{k+2}=\frac{k+2}{k+3}-\frac{k+1}{k+2}$$
$$=\frac{(k+2)^2-(k+1)(k+3)}{(k+3)(k+2)}=\frac{(k^2+4k+4)-(k^2+4k+3)}{(k+3)(k+2)}$$
$$=\frac{1}{(k+3)(k+2)}>0 \quad \text{ولې} \quad k\in\mathbb{N}^*$$

له ak+1-ak>0 همداسی(<=) (ak+1)>ak
د ټولو $k \in N^*$ لپاره لاس ته راځي، چې ورکړ شوې پرلپسی په کلکه مونوتون جګیږي.

۱۸ . ۲ . ۲ اریتمیتیکي - یا ګنیزې پرلپسی

د پرلپسی ..... 14;11;8;5;2 هرغړی د خپل مخکښ غړي څخه په 3 لوي دی.
ددې پرلپسی لپاره ورکړی
الف(یوه رکوررزیف انځورونه
ب) (یوه اکسپلیڅیت انځورونه.

ځنی پرلپسي د ډیرې پاملرنې ارزښت لري، په دې ډول چی د دوه په خوښه ګاونډیو غړو akاو ak+1 ترمنځ یو ثابت (تل همغه) بلواك موجود دی
غواړو چی دداسی دوه مهمو پرلپسی تیپونه (ډولونه ، رقمونه) په ځانګړې توګه څرګند راوباسو یا بهتره تر څیرنی لاندې ونیسو:

(پیژند یا تعریف ۱۸ . ۴ :
په یوه اریتمیتیکي- یا ګنونشمیرنیزې پرلپسي یالنډ: شمیرنیزې پرلپسی کي د درې توکو منځنی توکی د دواړو دباندنیو توکو اریتمیتیکي منځ دی:

$$a_n=\frac{a_{n-1}+a_{n+1}}{2}$$

په یوې ځمککچیزې لپسی(ټاکونی یا پیژند وروسته راځي) کی د درې یو په بل پسی توکو منځ غړی د دوو نورو دباندنیو غړو ځمککچیز یا هندسي منځ دی:

$$a_n = \sqrt{a_{n-1}.a_{n+1}}$$

لومړی اریتمیتیکی یا شمیرنیزه پرلپسی څیرو:

غوښتنه(ثبوت): یوه پرلپسی ورکړی، چی لومړی توکی یي ۵ او هر ورپسی راتلونکی توکی یی له مخ غړي څخه په ۱۲ کوچنی وي

الف) ددې پرلپسی لومړي پنځه توکي وشمیرئ

ب) د پرلپسی رکوررزیف انځورونه ورکړئ

پ) د پرلپسی اکسپلیڅیت انځورونه وکړئ

ت) د پرلپسی ۲۰ -م (۲۵ ، ۳۵،۵۰، ۱۰۰) توکي وشمیرئ.

ټاکونکی یا تعریف ۱۸ . ۵ :

یوه پرلپسی an اریتمیتیکي پرلپسی بلل کیږي، که د دوه پرلپسی توکو کمون یاکمښت تل ثابت یا همغه وي: $a_{n+1} - a_n = d \Leftrightarrow a_{n+1} = a_n + d$

بیلګي:

۱ - لاندنی پرلپسي ...;2;5,8;11;14;...;29;32;35

یوه اریتمیتیکي Arithmetic پرلپسی ده چی لومړی توکی یی a1 = 2

او ثابت یا همغه کمون یا کمښت یا فرق یی d = 3 دی.

۲ - دا پرلپسی ...;34-, 23-, 12- , 1- ; 10 اریتمیتیکي پرله پسی ده چی لومړی توکی یي a1=10 دی او d=-11 ده

که په هر پل(قدم) کی فنکشن $n \in N$; n—>an په همغی زیاته وونې d زیاتیږي یا همداسی کمیږي d=0 (لپاره ثابت دی) نو باید اریتمیتیکي پرلپسی یو لاینیز فنکشن(لاینیز بلواك) وي (D = N) د d په جګوالي . دا د لاندی اند لاس ته راوړنه یا فکر لاس ته اوړنه ده:

44

$$a_2 = a_1 + d$$
$$a_3 = a_2 + d = a_1 + 2d$$
$$a_4 = a_3 + d = a_1 + 3d$$

.

.

$$a_n = a_{n-1} + d = a_1 + (n-1).d = a_1 + d.n - d$$
$$f(n) = d.n + (a_1-d)$$

د لاینیز فنکشن جګوالی d
دی او ثابت یا همغه
توکی a1 -d نوميږي(
يادیږي يا بلل کيږي)

دلته an=2n+1 دلاینیز فنکشن په څير دی، د d=2 په جګيدو او دy - محورغوڅی-a1
d=1
له دې سره د پرلپسی د هر توکي د شميرلو امکانات ورکړ شوي دي:

تعريف ۱۸ . ۶ :

په اريتميتيکي- يا شميريزه پرلپسی کی n- م توکی د قاعدې له مخي داسي ورکړ شوی:
an=an-1+d=a1+(n-1).d

بيلګی:

۱ - اريتميتکي پرلپسی ... 2,19,36 , 53 ,ورکړ شوې.
غوښتونکي a20 ده.
داسی لرو: a1=2,d=17,n=20
نو an=a1+(n-1).d ⇔ a20=2+19.17=325
۲ - ورکړ شوې دې وي
a1 = -o,5 او a10 = -44,5
غوښتونکي d ده:
an=a1+(n-1).d<=>(an-a1)/(n-1)=d =>
d=(-44,5+0,5)/(10-1)=-44 /9

۱۸ . ۲ . ۳ځمککچيزې – يا هندسي پرلپسی

اوس غواړو هغه د مخه ویل شوی ،د یوه ثابت ((تل) همغه ارزښتیز) فنکشن سره، د پرلپسی ۲ -م تیپ د دوه غړو ترمنځ تر څیړنی ونیسو

پیلبیلګه :

یو هوښیار زدکړی غواړي په رسختۍ کی یوه میاشت کار وکړي(۲۰ د کار ورځی(. دی کارورکوونکی ته وایي، چی دیٔ ارزانه کار ورته کوي او لاندې وړاندیز ورته مخ ته کوی » د لمړی ورځي معاش دې 0,05 ډالره وي د دویمی دې دوه ځله د دریمی ورځی د دویمی ورځي دوه ځله څلورمه ورځ د دریمی ورځی دوه ځله او داسي نور، یعنی لمړی ورځ که 0,05 وي نو دومه ورځ 0,10، دریمه ورځ 0,20 او څلورمه ورځ 0,40 ډالره معاش کیږی او داسی نور

پوښتنه : د

الف) د ۱ –می یا لومړیٔ ورځی
ب) ۱۵ - می ورځی
پ) د ۲۰ - می ورځی
معاش څومره کیږي. اندازه ګڼ که په ډالرو وشمیرل شي، لاندې پرلپسی جوړوي:
0,05;0,1; 0,2; 0,4;0,8; 1,6; 3,2,......

پوښتنه :

ددې پرلپسی لپاره
الف) رکورزیف انځورونه
ب) اکسپلیڅیت انځورونه ورکړی

پیژند ۱۸ . ۷:

(ځمککچیزې یا هندسی پرلپسی) یوه پرلپسی an هندسي بلل کیږي، که د دوه یوبل پسی غړو ویش ثابت((تل) همغه) q وي:
یا په بل ډول یا په بل عبارت : یوه پرلپسی چی لومړی غړی $a_1 \neq 0$ وي اود همغه ګڼ یعنی ثابت ګڼ q سره د تل ځلونی څخه لاس ته راشي، ځمککچیزه یا هندسي پرلپسی بلل کیږي.

$n \in N; q \in \{R\} \setminus \{0\}$ د ټولو $\frac{a_{n+1}}{a_n} = q; a_{n+1} = a_n.q$ لپاره

يو ځل بيا يوځای
+d +d +d +d

اريتميتيکي پرلپسی ...a1 a2 a3 a4 a5

هندسي پرله پسی..... a1 a2 a3 a4 a5

.q .q .q . q

د هندسي پرلپسی دوهم غړی دلو

$a_{15} = 3.2^{14} = 29152$

مړي غړي سره د q ځل يا ضرب څخه لاس ته راځي، او دا د ټولو وروسته راتلونکو غړو لپاره باوري دي. له دې امله هندسی پرلپسي an ‹—— n اکسپونينشل فنکشن يا د جګګړې بلواک ښايي چی q د بنسټ په توګه لري:

$$a_1 = a_1$$

$$a_2 = a_1.q$$

$$a_3 = a_2.q = a_1q^2$$

$$a_4 = a_3.q = a_1.q^3$$

.

.

.

$$a_n = a_{n-1}.q = a_1.q^{n-1}$$

$$f(n) = a_1.q^{n-1}$$

جمله ۱۸ :

په هندسي پرلپسی کی n- م توکی د لاندې قاعدې له مخي شميرل کيږي

$$a_n = a_{n-1}.q = a_1.q^{n-1}$$

47

بېلګې:

1 - a1=3 , q=2 ,n=15 => $a_{15} = 3.2^{14} = 29152$

2 - a1=19,q=1,01,n=100 ;

a100= $19.1{,}o1^{99}$ = 50,88263639

جمله :

يوه ځمککچيزه پرلپسی د زياتيز يا مثبت پيلتوکي سره د $q > 1$ لپاره کلك مونوتون جګيدونکی ده د $0<q<1$ لپاره کلك مونوتون لويدونکی ده

غوښتنه :

د لاندې پرلپسيو ۱۰ لومړني غړي وشميرى

a) $a_k = \dfrac{k-2}{k+2}$ b) $a_k = \sin\dfrac{k\cdot\pi}{6}$ c) $a_k = \dfrac{1}{2}[1+(-1)^k]$

d) $a_k = 1-\left(\dfrac{1}{10}\right)^k$ e) $a_k = \left(1+\dfrac{1}{k}\right)^k$ f) $a_k = \cos\dfrac{k\cdot\pi}{2}$

g) $a_k = k^k$ h) $a_k = (-1)^{k-1}\cdot k^2$

i) $a_1 = 3;\quad a_{k+1} = \dfrac{1}{2}\left(a_k + \dfrac{4}{a_k}\right)$ k) $a_1 = 1;\quad a_2 = 2;\quad a_{k+2} = \sqrt{a_{k+1}\cdot a_k}$

l) $a_1 = 3;\quad a_{2n} = a_{2n-1} - 3;\quad a_{2n+1} = a_{2n} + 4\ (n \in \mathbb{N}^*)$

m) $a_k = 2k - 1 + \dfrac{1+(-1)^k}{2} + (-1)^{\frac{(k+3)(k+4)}{2}}$ n) $a_k = 3 - \dfrac{1}{2^{k-2}}$

غوښتنه :

پرلپسی د مونوتون خويونو له پلوه وڅيړی

a) $a_k = \dfrac{k-2}{k}$ b) $a_k = \dfrac{k+4}{k}$ c) $a_k = \dfrac{3k}{2k-1}$

d) $a_k = \dfrac{1-k^2}{k}$ e) $a_k = 2^k$ f) $a_k = 1 - \sin\dfrac{\pi}{k+1}$

۱۸ . ۲ الف لړی

د هغه کارپلټونکی زدکړي وړانديز ته بيرته پام راګرځوو، چی د لمړی ورځي
$0,05$ اجوره د دويمې ورځي $0,1$ د دريمی ورځي $0,2$ ، د څلورمی ورځي اجوره يی
$0,4$ ډالره وه او داسی نور.
په هغه وخت کی داسی پوښتنه رامنځ ته شوې:
دk - می ورځي لپاره زدکړی څومره اجوره اخلی ؟
دا مو يوې ځمککچيزې لړی ته لاربنودوي د $a_k = 0,05.2^{k-1}$ سره.
د هغي k - م توکی دk- می ورځي اندازه ګڼ يا د اجورې معيار دی.
دا په دي مانا چی زدکړی دk - می ورځي لپاره $0,05.2^{k-1}$ دالره اجوره اخلي.
که غواړو چی وښايو چی زدکړی په لومړيو پنځو ورځو کی څومره اجوره اخلی ، نو
بايد د لومړيو ورځو اجورې ځککچيزه پرلپسی، د $a_k = 0,05.2^{k-1}$ سره، يو بل سره زياته کړو

$$0,05+0,1+0,2+0,4+0,8 = 1,55$$

دا زدکړی د لومړيو پنځو ورځولپاره $1,55$ ډالره معاش اخلي‌که د لومړيو n ورځو
اجوره په Sn سره وښايو ، نو يوه لړی د لاندې غړو سره لاس ته راځي :

$$s_1 = \quad 0,05\ .2^0 \quad = 0,05$$
$$s_2 = s_1 + 0,05.2 = 0,05+0,1 = 0,15$$
$$s_3 = s_2 + 0,05.2^2 = 0,15+0,20 = 0,35$$
$$s_4 = s_3 + 0,05.2^3 = 0,35+0,40 = 0,75$$
$$s_5 = s_4 + 0,05.2^4 = 0,75 + 0,80 = 1,55$$
$$s_6 = s_5 + 0,05.2^5 = 1,55+0,160 = 3,15$$

غوښتنه:

پرلپسی ته د ۱۵ - م توکي پورې پر مخ وده ورکړی(مخ وديزه کړی)۰ که د ورکړ
شوې پرلپسی ، چی توکي يی $a1,a2,a3$ ....
دي، دتوکو يو په بل پسی زياتون جوړ شي

$$
\begin{aligned}
s_1 &= a_1 && = a_1\\
s_2 &= a_1 + a_2 && = s_1 + a_2\\
s_3 &= a_1 + a_2 + a_3 && = s_2 + a_3\\
&\;\;\vdots\\
s_{20} &= (a_1 + a_2 + \dots + a_{19}) + a_{20} && = s_{19} + a_{20}\\
&\;\;\vdots\\
s_{n-1} &= (a_1 + a_2 + \dots + a_{n-2}) + a_{n-1} && = s_{n-2} + a_{n-1}\\
s_n &= (a_1 + a_2 + \dots + a_{n-1}) + a_n && = s_{n-1} + a_n\\
s_{n+1} &= (a_1 + a_2 + \dots + a_n) + a_{n+1} && = s_n + a_{n+1}\\
&\;\;\vdots
\end{aligned}
$$

نو یوه پرلپسی S1,S2,s3,... لاس ته راځي٠

(پيژند تعریف ۱۸ . ۸:

د یوې پرلپسی a1; a2; a3;... څخه جوړه شوې پرلپسی S1;S2;S3...
د رکورزیف انځورونی $s_1 = a_1; s_n = s_n + a_{n+1}$
سره پرلپسې لړی (د پرلپسیو لړی) یا لنډ : لړی بلل کیږي.

بیلګه :

د ak = 2k سره جوړې شوې پرلپسی څخه جوړه شوی لړی په لاندې ډول ده:

$$s_1 = 2^1 = 2$$

$$
\begin{aligned}
s_2 &= s_1 + 2^2 = 2^1 + 2^2 = 6\\
s_3 &= s_2 + 2^3 = 2^1 + 2^2 + 2^3 = 14\\
s_4 &= s_3 + 2^4 = 2^1 + 2^2 + 2^3 + 2^4 = 30\\
&\vdots\\
s_n &= s_{n-1} + a_n = 2^1 + 2^2 + 2^3 + \dots + 2^{n-1} + 2^n\\
&\vdots
\end{aligned}
$$

بیلګه :

د $a_k = (2+3k)/(k+1)$ سره جوړه پرلپسی څخه جوړه شوې لړی، په لاندې ډول ده:

$$s_1 = \frac{5}{2}$$

$$s_2 = s_1 + \frac{8}{3} = \frac{5}{2} + \frac{8}{3} = \frac{31}{6}$$

$$s_3 = s_2 + \frac{11}{4} = \frac{5}{2} + \frac{8}{3} + \frac{11}{4} = \frac{95}{12}$$

$$s_4 = s_3 + \frac{14}{5} = \frac{5}{2} + \frac{8}{3} + \frac{11}{4} + \frac{14}{5} = \frac{643}{60}$$

$$\vdots$$

$$s_n = s_{n-1} + \frac{2+3n}{n+1} = \frac{5}{2} + \frac{8}{3} + \frac{11}{4} + \frac{14}{5} + \dots + \frac{2+3n}{n+1}$$

$$\vdots$$

پوښتنې:

د لاندې پرلپسیو څخه جوړه شوې لړی توکي Snورکړی

a) $a_k = 2 \cdot 5^{k-1}$ b) $a_k = -3 \cdot 2^{k-1}$

c) $a_k = 5 \cdot 0{,}2^{k-1}$ d) $a_k = 4 \cdot (-3)^{k-1}$

پیژند ۱۸ . ۹ :

د اریتمیتیکي پرلپسی تکو یو له بل سره زیاتون په پام کی نیسو، دا څه چی لاس ته راځي، هغه اریتمیتیکي لړی بولو:

$$s_n = a_1 + a_2 + \dots + a_n$$

موږ دلته بیا پیل بیلګه را اخلو، چی د اریتمیتیکي لړی (داد پرلپسی زیاتون پرلپسی ده چی د لړی پرلپسي یی غواړو ونومو او په لنډه توګه یی له دې وروسته »لړی « و بولو) زیاتون او په تولیزه توګه لړی زیاتون وشمیرو. تاکونکی زیاتون له مختلفو لورو موږ دوه واره لیکو، چی دواړه هغي پسی زیات کړی شو یا یي زیاتون ونیولی شو:

$$s_{100} = a_1 + a_2 + a_3 + a_4 + \ldots + a_{n-1} + a_n$$

$$s_{100} = a_n + a_{n-1} + a_{n-2} + a_{n-3} \ldots + a_2 + a_1$$

$$s_{100} = 3+7+11+\ldots +395 + 399$$

$$s_{100} = 399+ 395+.. .+ 11 + 7 + 3$$

$$2s_n = (a_1+a_n)+(a_2+a_{n-1})+..+(a_n+a_1)$$

$\log_a(b)=\frac{\lg(b)}{\lg(a)}=\frac{\ln(b)}{\ln(a)}$	$\ln\left(b^c\right)=c\cdot\ln(b)$

$e^0=1$	$a=e^{\ln(a)}$
$\ln(e)=1$	$\ln(1)=0$

د لوګاریتم III نتیجې

نتیجې

لومړی:

الف - $\log_3(9)+\log_3\left(\frac{1}{243}\right)=-3$ ب - $\log_9\left(3^4\right)=2$ پ - $\log_5\left(\sqrt{125}\right)=\frac{3}{2}$

ت - $\log_a\left(\frac{1}{a^2}\right)=-2$ ټ - $\log_8(2)=\frac{1}{3}$ ث - $\log_a\left(\sqrt{a^k}\right)=\frac{k}{2}$

ج - $\ln\left(e^{-3}\right)+\ln\left(\frac{1}{\sqrt{e}}\right)=-3,5$ چ- $\log_5(0,04)=-2$ ح- $\log_2\sqrt{8}=\frac{3}{2}$

دویم: الف - $\log_3(x)=3 \Rightarrow x=27$ ب - $\log_x(3)=-2 \Rightarrow x=\frac{1}{3}\sqrt{3}$

پ - $\log_2(5)=x \Rightarrow x=\frac{\ln(5)}{\ln(2)}\approx 2,322$ ت - $\log_4(x-1)=-1,5 \Rightarrow x=\frac{9}{8}$ ټ - $\log_x(3)=0 \Rightarrow x=\{\ \}$

152

سرلیک

ث - $\lg(x) = -\frac{1}{2} \Rightarrow x = \frac{1}{10}\sqrt{10}$ ج - $\ln(x) = -1 \Rightarrow x = \frac{1}{e}$ چ- $\lg(2x) = 0,5 \Rightarrow x = \frac{1}{2}\sqrt{10} \approx 1,581$

ح- $\log_x(4) = \frac{1}{3} \Rightarrow x = 64$ خ - $\log_4(x) + \log_4(2) = \log_4(12) \Rightarrow x = 6$

ځ- $\log_3(x) - \log_3(5) = 3 \Rightarrow x = 135$ څ- $\log_5(12) = x \Rightarrow x = \frac{\ln(12)}{\ln(5)} \approx 1,544$

دریم

الف - $\log(x) + \log(y)$ ب - $-\log(a) - \log(b)$ پ - $\log(3)$

ت - $\frac{1}{2}\left[\log(2) + \log(x) + \log(y)\right]$ ټ - $\ln\left(uv^2\right)$ ث - $\lg(u)$

ج - $\lg\left(\frac{x\sqrt{z}}{y}\right)$ چ- $3\ln(2) - 1$ ح- $\ln(1-x) - \ln(1+x)$

خ - $2\log(x)$ څ - $\lg(u) - \lg(v)$ ځ - $2\log(x)$

څلورم:

الف - 3 ب - $2\ln(u) - \ln(3)$ پ - $\ln(1-x)$

ت - $\ln(y)$ ټ - $-2\ln(a) - \ln(2)$ ث - $-\ln(2+x)$

پنځم:

الف- $\log_3(4) = \frac{\ln(4)}{\ln(3)}$ (W) ب- $\log_3(4) = \frac{\lg(3)}{\lg(4)}$ (F) پ- $\log_3(4) = \frac{\lg(4)}{\lg(3)}$ (W)

شپږم: $\log_a(b)$ او $\log_b(a)$ یو بل سره معکوس دي.

(د بیلګي په توګه $\log_5(25)=2;\ \log_{25}(5)=\frac{1}{2}$)

اوم:

$$\ln\left(\frac{1}{x}\right)=-\ln(x)=-\frac{1}{4} \qquad \ln\left(\sqrt{x}\right)=\frac{1}{2}\ln(x)=\frac{1}{8}$$

$$\ln^2(x)=(\ln x)^2=\frac{1}{16} \qquad \ln\left(x^2\right)=2\ln(x)=\frac{1}{2}$$

د لوګاریتم لومړی قانون د لوګاریتم دویم قانون	اتم: $\lg(4000)=\lg(4\cdot 1000)=\lg(4)+3$ $\lg(0{,}25)=\lg(1)-\lg(4)=-\lg(4)$

نهم:

$e^{2\ln(u)}$	$e^{\ln\left(\frac{u}{2}\right)}$	$\frac{1}{2}e^{\frac{\ln(u)}{2}}$	$e^{-\frac{\ln(u)}{3}}$	$2e^{\ln\left(u^2\right)}$	$e^{\ln(u)-1}$	$e^{\ln(t-1)}$
u^2	$\frac{u}{2}$	$\frac{1}{2}\sqrt{u}$	$\frac{1}{\sqrt[3]{u}}$	$2u^2$	$u\cdot e^{-1}$	$u-1$

لسم:

الف ـ $e^{\ln(u)+1}=e^{\ln(u)}\cdot e=u\cdot e$ ب ـ $\frac{2}{3}e^{-\ln(0{,}75u)}=\frac{2}{3\cdot e^{\ln\left(\frac{3}{4}u\right)}}=\frac{2}{3\cdot\frac{3}{4}u}=\frac{8}{9u}$

د توان او لوګاریتم قوانین

د توان قوانین د توان قوانین

$a^m\cdot a^n=a^{m+n}$	$\frac{a^m}{a^n}=a^{m-n}$	$a^n\cdot b^n=(a\cdot b)^n$	$\frac{a^n}{b^n}=\left(\frac{a}{b}\right)^n$
$\left(a^n\right)^m=a^{n\cdot m}$	$\sqrt[n]{a^m}=a^{\frac{m}{n}}$	$a^0=1$	$\frac{1}{a^n}=a^{-n}$

د لوګاريتم قوانين و بنسټ e ته $\ln(b) = c \Leftrightarrow e^{c} = b$

$\ln(b \cdot c) = \ln(b) + \ln(c)$	$\ln\left(\frac{b}{c}\right) = \ln(b) - \ln(c)$	$a = e^{\ln(a)}$	$e^{0} = 1$
$\ln\left(b^{c}\right) = c \cdot \ln(b)$	$\log_{a}(b) = \frac{\lg(b)}{\lg(a)} = \frac{\ln(b)}{\ln(a)}$	$\ln(1) = 0$	$\ln(e) = 1$

بيلګه:

$$\log_{5}(25) = x \Leftrightarrow 5^{x} = 25 \Leftrightarrow x = 2$$

$$\log_{25}(5) = x \Leftrightarrow 25^{x} = 5 \Leftrightarrow x = \frac{1}{2}$$

۵ ـ ماتريکسونه او ديترمينانتونه

ما په خپل ستر کتاب کې دا موضوع پوره څېړلې، خو دا دلته غواړم په لنډه توګه د ماتريکس او ديترمينانت د کارولو ځايونو ته ګوته ونيسم، چې داسې ښه پوهور او ساده ليکل شوي دي.

د يوه ماتريکس تاکونی (پېژند يا تعريف) : يو له m ليکو rowاو n متو يا درزونوcolumn څخه جوړه څېره(شېما) د تيوپ **Typ (m; n)** ماتريکس يا **(m x n)** - ماتريکس بلل ګيري.

155

سرلیک

$$A = \begin{pmatrix} a_{11} & a_{12} & a_{13} & \dots & a_{1n} \\ a_{21} & a_{22} & a_{23} & \dots & a_{2n} \\ a_{31} & a_{32} & a_{33} & \dots & a_{3n} \\ \dots & \dots & \dots & \dots & \dots \\ \dots & \dots & \dots & \dots & \dots \\ a_{m1} & a_{m2} & a_{m3} & \dots & a_{mn} \end{pmatrix}$$

په a_{ij} ګې i لیکه ایندکس یا پېژندنخښه اوj مټه(ستن) – یا درز پېژندنخښه ده

د لیکنې ډول: $A=[a_{ij}]$ یا (a_{ij})

د ماتریکسونو لپاره د کارونې یا استعمال ځایونه:

۱. لاینیز برابرونسیستم:

I. $3x - 2y + 4z = 5$

II. $4x + y - 3z = 9$

III. $x - y - z = 1$

$$K = \begin{pmatrix} 3 & -2 & 4 \\ 4 & 1 & -3 \\ 1 & -1 & -1 \end{pmatrix}$$

K .... د ځله وونو(ضریبونو) ماتریکس دی، دلته (3 x 3) - ماتریکس په ګوته کوي

$$E = \begin{pmatrix} 3 & -2 & 4 & 5 \\ 4 & 1 & -3 & 9 \\ 1 & -1 & -1 & 1 \end{pmatrix}$$

E ... غزېدنماتریکس یا غزېدلی ماتریکس، دلته (3 x 4) – ماتریکس دی

۲ . د مالوماتو شننه او انځورونه :

156

سرليک

د بېلګې په توګه : د ناستځايونو پلان، د ساعتونو پلان، ...مختلف مالوماتونه

	سګرټسکوونکي	نه سکوونکي
نارينه	211	283
ښځينه	143	428

$$M = \begin{pmatrix} 211 & 283 \\ 143 & 428 \end{pmatrix}$$

د ماتريکسونو په هکله د ازماېښت انځورونه :

1 ازمايې

0 نه ازمايې

Z... د نظم يا تنظيم ماتريکس

يادونه : په لاندې شيما کې په ليکه پراته نومونه دي او ولاړ يا په مته ليکلي هم کېدی شي نومونه يا خويونه وي، چې زه يې د پښتو کوونې څخه تېرېږم،چې ليکونکي يې هم ترې پوهېدنې ته ارزښت نه دی ورکړی او همداسې په خوښه يې څه رانيولي

	Zaloznik	Dichtl	Kranzmayer	Pirolt	Gratzer
Meter	**0**	**1**	**1**	**0**	**1**
Wrussnig	**1**	**1**	**1**	**0**	**0**
Sgonc	**1**	**0**	**1**	**1**	**1**
Wogrin	**1**	**1**	**1**	**0**	**0**
Pippan	**1**	**1**	**1**	**0**	**1**

157

سرلیک

$$Z = \begin{pmatrix} 0 & 1 & 1 & 0 & 1 \\ 1 & 1 & 1 & 0 & 0 \\ 1 & 0 & 1 & 1 & 1 \\ 1 & 1 & 1 & 0 & 0 \\ 1 & 1 & 1 & 0 & 1 \end{pmatrix}$$

۳. د اړیکو جوړښتونه:

د ځوانانو د ګروپونو غړي ...... A_1, A_2, A_3, A_4

په زړه پورې نه 0 0

په زړه پوې 1 1

	A_1	A_2	A_3	A_4
A_1	0	1	1	0
A_2	1	0	0	1
A_3	1	0	0	0
A_4	1	1	0	0

$$S = \begin{pmatrix} 0 & 1 & 1 & 0 \\ 1 & 0 & 0 & 1 \\ 1 & 0 & 0 & 0 \\ 1 & 1 & 0 & 0 \end{pmatrix}$$

د ماتریکسونو بڼه:**Typen von Matrizen**

۱. ځلوری (مربع) ماتریکس:

یوه شیما یا څېره ده ، په کومه کې چې د لیکو ګڼون(تعداد) **m** د مېو(ستنو) یا درزونو د ګڼون(تعداد) **n** یو بل سره برابر وي، ځلوری ماتریکس(مربع-) بلل کیږي.

$$\mathbf{M} = \begin{pmatrix} \mathbf{2} & \mathbf{4} & \mathbf{6} \\ \mathbf{10} & \mathbf{20} & \mathbf{30} \\ \mathbf{-1} & \mathbf{-2} & \mathbf{-3} \end{pmatrix}$$

(3 x 3) - ماتریکس یا د ۳-مې درجې ځلوری ماتریکس

a) دربګوړي ماتریکس:

یو ځلوری (مربع) ماتریکس، چې د دوه کونجترې کښته لور ته ، همداسې پورته لور ته ټول توکي صفر وي دربګوړی ماتریکس بلل کیږي

$$\mathbf{D} = \begin{pmatrix} \mathbf{3} & \mathbf{1} & \mathbf{-4} \\ \mathbf{0} & \mathbf{2} & \mathbf{5} \\ \mathbf{0} & \mathbf{0} & \mathbf{7} \end{pmatrix}$$

پورته دربګوړی ماترکس

$$\mathbf{U} = \begin{pmatrix} \mathbf{-3} & \mathbf{0} & \mathbf{0} \\ \mathbf{5} & \mathbf{4} & \mathbf{0} \\ \mathbf{6} & \mathbf{8} & \mathbf{6} \end{pmatrix}$$

کښته دربګوړی ماتریکس

b) د دوه کونجترې ماتریکس

یوه ځلوری ماتریکس، په کوم کې چې ټول توکي صفر وي، بې له اصلي دوه کونجترې ، د دوه کونجترې ماتریکس بلل کیږي.

که د اصلي دوه کونجتړې تول توکي ارزښت ۱ ولري، نو يوون ماتريکس (يووالي -) مو مخ ته پروت دی يا دا يوي ماتريکس (د واحدونو) ماتيکس بلل کيږي.

$$D = \begin{pmatrix} 4 & 0 & 0 & 0 \\ 0 & 5 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 3 & 0 \\ 0 & 0 & 0 & 1 \end{pmatrix}$$

د دوه کونجتړي ماتريکس

$$E = \begin{pmatrix} 1 & 0 & 0 \\ 0 & 1 & 0 \\ 0 & 0 & 1 \end{pmatrix}$$

د يوون – يا يووالي ماتريکس

۲ . صفرماتريکس

$$O = \begin{pmatrix} 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0 \\ 0 & 0 & 0 \end{pmatrix}$$

۳ . ليکه ماتريکس يا د ليکو ماتريکی. **m=1** او n>1

$$P = \begin{pmatrix} 1 & 2 & 3 \end{pmatrix}$$

۴ . د متې - يا درز ماتريکس **n=1** او m>1

$$V = \begin{pmatrix} 1 \\ 2 \\ 3 \end{pmatrix}$$

۵ . سکالار: **m=n=1**

رييل ګڼونه ا ... a_{11}

د ماتریکسونو سره شمېرنه.

۱ . د ماتریکسونو زیاتون او کمون

$$B = \begin{pmatrix} 1 & 2 \\ 3 & 4 \end{pmatrix} \qquad A = \begin{pmatrix} 2 & -3 \\ 4 & 5 \end{pmatrix}$$

$$C = A + B = \begin{pmatrix} 3 & -1 \\ 7 & 9 \end{pmatrix}$$

$$D = A - B = \begin{pmatrix} 1 & -5 \\ 1 & 1 \end{pmatrix}$$

د ماتریکسونو د زیاتون لپاره لاندې ویناوې باور لري:

زیاتون اسوشیاتیو(سره یوځای تړلی) دی یانې

(A+B) + C = A + (B+C) $\Rightarrow \Rightarrow$

زیاتون کموتاتیو یا بدلېدونکی دی

A+B = B+A $\Rightarrow \Rightarrow$

صفر ناپیلی - یا بې اغیزه توکی دی

A+0 = 0+A = A $\Rightarrow \Rightarrow$

د هر ماتریکس لپاره یو په خپ(مخامخ – یا برعکس) ماتریکس شته د کوم لپاره، چې باور لري:

A+(-A) = -A+A = 0 $\Rightarrow \Rightarrow$

ډېرى، چې ټیک دا پورته خویونه ولری (د بېلګې په توګه: N, Z, Q, R)ګروپونه بلل کیږي.

۲ . د یوې ماتریکس ځل د یوه سکالار سره

$$(-3)\cdot\begin{pmatrix}2 & 3\\ 4 & 5\\ 6 & 7\end{pmatrix}=\begin{pmatrix}-6 & -9\\ -12 & -15\\ -18 & -21\end{pmatrix}$$

۳ . د ماتریکسونو ځاه ونه یا ثل :

$$A=\begin{pmatrix}2 & 4 & 5\\ 3 & 6 & 7\end{pmatrix} \qquad B=\begin{pmatrix}5 & 4\\ 4 & 2\\ 2 & 5\end{pmatrix} \qquad C=A\cdot B=\begin{pmatrix}36 & 41\\ 53 & 59\end{pmatrix}$$

(**2** x 3) (3 x **2**) لاس ته راوړی ماتریکس: (**2 x 2**)

وړاندیز دی، چې ددې لپاره دې د ،، فالک ،،**"Falk"** شېما وکاروي

			5	**4**
			4	**2**
			2	**5**
2	**4**	**5**	**36**	**41**
3	**6**	**7**	**53**	**59**

$$\boxed{a_{ij}\cdot b_{jk}=c_{ik}}$$

د دیترمینانتونو شمېرنه

تاکندوي یا پیژند (تعریف): د یوه څلوری ماتریکس $A=\begin{pmatrix}a_{11} & a_{12}\\ a_{21} & a_{22}\end{pmatrix}$ چې نظم یې ۲ دی، د دیترمینانت **det(A)** لاندې هغه ریبل ګڼ پوهیږو، چې د $a_{11}\cdot a_{22}-a_{12}\cdot a_{21}$ قانون له مخې جوړ وي.

$$\mathbf{det(A)} = \begin{vmatrix} \mathbf{a_{11}} & \mathbf{a_{12}} \\ \mathbf{a_{21}} & \mathbf{a_{22}} \end{vmatrix} = \mathbf{a_{11} \cdot a_{22} - a_{12} \cdot a_{21}}$$

په خبرو : د اصلي دوه کونجتړې توکوځل ترې کم د څنګيزې دوه کونجتړې توکو ځل(ضرب)

د کاروني بېلګه: د برابرون سیستم دې د کرامر قاعدې**„Cramerschen Regel“** له لارې اوبی یا حل شي.

I: 5x + 2y =18
II: 15x – 5y =10

اوبیونه: D دې د ځله وونو ماتریکس دیترمینانت وي.

$$D = \begin{vmatrix} \mathbf{5} & \mathbf{2} \\ \mathbf{15} & \mathbf{-5} \end{vmatrix} = \mathbf{5 \cdot (-5) - 2 \cdot 15 = -55}; \quad \mathbf{D \neq 0},$$

برابرونسیستم د یواځنی اوبیونې وړ دی یا یواځنی اوبیوړ دی

$$D_x = \begin{vmatrix} \mathbf{18} & \mathbf{2} \\ \mathbf{10} & \mathbf{-5} \end{vmatrix} = \mathbf{18 \cdot (-5) - 2 \cdot 10 = -110}$$

$$\mathbf{D_y} = \begin{vmatrix} \mathbf{5} & \mathbf{18} \\ \mathbf{15} & \mathbf{10} \end{vmatrix} = \mathbf{5 \cdot 10 - 18 \cdot 15 = -220}$$

„<u>Cramersche Regel</u>“: $D \neq 0$ د کرامر قاعده

$$x = \frac{D_x}{D}\text{،}\quad y = \frac{D_y}{D}$$

x= 2; y= 4

د یوې 3x3 - ماتریکس د دیترمینانت شمېرل

a) a) Regel von Sarrus: **د ساروس قاعده**

<u>Beispiel</u>:بیلګه

$$\begin{vmatrix} 1 & 2 & 3 \\ 4 & 2 & 1 \\ 1 & 2 & 1 \end{vmatrix}\begin{matrix} 1 & 2 \\ 4 & 2 \\ 1 & 2 \end{matrix}$$

$$= 1\cdot2\cdot1 + 2\cdot1\cdot1 + 3\cdot4\cdot2 - [2\cdot4\cdot1 + 1\cdot1\cdot2 + 3\cdot2\cdot1] = 28 - 16 = 12$$

$$\det(A) = \begin{vmatrix} a_{11} & a_{12} & a_{13} \\ a_{21} & a_{22} & a_{23} \\ a_{31} & a_{32} & a_{33} \end{vmatrix}\begin{matrix} a_{11} & a_{12} \\ a_{21} & a_{22} \\ a_{31} & a_{32} \end{matrix} = \; =$$

-

$$= a_{11} \cdot a_{22} \cdot a_{33} + a_{12} \cdot a_{23} \cdot a_{31} + a_{13} \cdot a_{21} \cdot a_{32} - (a_{12} \cdot a_{21} \cdot a_{33} + a_{11} \cdot a_{23} \cdot a_{32} + a_{13} \cdot a_{22} \cdot a_{31})$$

بېلګه<u>Beispiel</u>:

$$A = \begin{pmatrix} 7 & 8 & 9 \\ -1 & 2 & 3 \\ 0 & 1 & 0 \end{pmatrix}$$

د A دیترمینانت غواړو پیدا کړو

$$\det(A) = \begin{vmatrix} 7 & 8 & 9 \\ -1 & 2 & 3 \\ 0 & 1 & 0 \end{vmatrix} \begin{matrix} 7 & 8 \\ -1 & 2 \\ 0 & 1 \end{matrix} =$$

$$= 7 \cdot 2 \cdot 0 + 8 \cdot 3 \cdot 0 + 9 \cdot (-1) \cdot 1 - 9 \cdot 2 \cdot 0 - 7 \cdot 3 \cdot 1 - 8 \cdot (-1) \cdot 0 = -9 - 21 = -30$$

ب) ب) د ليكي يا متي پسي وديزونه

بېلګه. ۲ ـمې ليکې پسې

$$A = \begin{pmatrix} 8 & -6 & 5 \\ -7 & 2 & -1 \\ 3 & -4 & 4 \end{pmatrix}$$

$$\det(A)=\begin{vmatrix} 8 & -6 & 5 \\ -7 & 2 & -1 \\ 3 & -9 & 4 \end{vmatrix} = -(-7)\cdot\begin{vmatrix} -6 & 5 \\ -9 & 4 \end{vmatrix} + 2\cdot\begin{vmatrix} 8 & 5 \\ 3 & 4 \end{vmatrix} - (-1)\cdot\begin{vmatrix} 8 & -6 \\ 3 & -9 \end{vmatrix}$$

=7 (+21)+2 (+17)+54 =235

د مخنخښي قاعده

د ګڼونو یا اعدادو نخښې د اندکسونو یا پیژندنښو جوړه زیاتون سره "+„ او "-„ د ناجوړه پیژندنخښو د زیاتون سره

$$\begin{vmatrix} + & - & + \\ - & + & - \\ + & - & + \end{vmatrix}$$

د ۱ لیکي پسي اوبیونه

$$a_{11}\cdot\begin{vmatrix} a_{22} & a_{23} \\ a_{32} & a_{33} \end{vmatrix} - a_{12}\cdot\begin{vmatrix} a_{21} & a_{23} \\ a_{31} & a_{33} \end{vmatrix} + a_{13}\cdot\begin{vmatrix} a_{21} & a_{22} \\ a_{31} & a_{32} \end{vmatrix}$$

د کوفاکتورونو یا کوځله وونو α_{ij} شمېرنه:

$$\det(A)=\begin{vmatrix} a_{11} & a_{12} & a_{13} \\ a_{21} & a_{22} & a_{23} \\ a_{31} & a_{32} & a_{33} \end{vmatrix}$$

که **باور ولري، نو α_{ij} د a_{ij} کوفاکتورونه بلل کیږي.**

د α_{ij} لپاره باور لري:

$$\alpha_{11}=(-1)^{1+1}\cdot\begin{vmatrix}a_{22} & a_{23}\\ a_{32} & a_{33}\end{vmatrix};\ \alpha_{12}=(-1)^{1+2}\cdot\begin{vmatrix}a_{21} & a_{23}\\ a_{31} & a_{33}\end{vmatrix};\ \alpha_{13}=(-1)^{1+3}\cdot\begin{vmatrix}a_{21} & a_{22}\\ a_{31} & a_{32}\end{vmatrix}$$

او داسې نور.

له دې امله باور لري: $\det(A)=\alpha_{11}\cdot a_{11}+\alpha_{12}\cdot a_{12}+\alpha_{13}\cdot a_{13}$

بېلګه: ټول کوفاکتورونه وشمېرئ

$$A=\begin{pmatrix}1 & 2 & 3\\ 2 & 3 & 2\\ 1 & 2 & 2\end{pmatrix}$$

$$\alpha_{11}=(-1)^{1+1}\cdot\begin{vmatrix}3 & 2\\ 2 & 2\end{vmatrix}=2;\ \alpha_{12}=(-1)^{1+2}\cdot\begin{vmatrix}2 & 2\\ 1 & 2\end{vmatrix}=-2;\ \alpha_{13}=(-1)^{1+3}\cdot\begin{vmatrix}2 & 3\\ 1 & 2\end{vmatrix}=1$$

$$\alpha_{21}=(-1)^{2+1}\cdot\begin{vmatrix}2 & 3\\ 2 & 2\end{vmatrix}=2;\ \alpha_{22}=(-1)^{2+2}\cdot\begin{vmatrix}1 & 3\\ 1 & 2\end{vmatrix}=-1;\ \alpha_{23}=(-1)^{2+3}\cdot\begin{vmatrix}1 & 2\\ 1 & 2\end{vmatrix}=0$$

$$\alpha_{31}=(-1)^{3+1}\cdot\begin{vmatrix}2 & 3\\ 3 & 2\end{vmatrix}=-5;\ \alpha_{32}=(-1)^{3+2}\cdot\begin{vmatrix}1 & 3\\ 2 & 2\end{vmatrix}=4;\ \alpha_{33}=(-1)^{3+3}\cdot\begin{vmatrix}1 & 2\\ 2 & 3\end{vmatrix}=-1$$

بیلګه: د دویمې متې د ودې پسې $\det(A)$ وشمېرئ

$$A=\begin{pmatrix}1 & 0 & 2\\ 3 & 0 & 4\\ 2 & -5 & 1\end{pmatrix}$$

$$\det(A)=0\cdot\alpha_{12}+0\cdot\alpha_{22}+(-5)\cdot\alpha_{32}=(-5)\cdot(-1)^{3+2}\cdot\begin{vmatrix}1 & 2\\ 3 & 4\end{vmatrix}=-10$$

بېلګه: $\det(A)$ **وشمېرئ**

$$A=\begin{pmatrix}1 & 4 & 8\\ -2 & 1 & 5\\ -3 & 2 & 4\end{pmatrix}$$

داسې چې د دريمې متې څخه د دويمې متې دوه ځله وکاږئ يا کم کړئ:

$$\det(A)=\begin{vmatrix}1&4&8\\-2&1&5\\-3&2&4\end{vmatrix}=\begin{vmatrix}1&4&8-2\cdot4\\-2&1&5-2\cdot1\\-3&2&4-2\cdot2\end{vmatrix}=\begin{vmatrix}1&4&0\\-2&1&3\\-3&2&0\end{vmatrix}=$$

$$3\cdot(-1)^{2+3}\cdot\begin{vmatrix}1&4\\-3&2\end{vmatrix}=-42$$

د يوه ځلورى ماتريکس ادجونګيري

وي دې $A=[a_{ij}]$ يو n - ځلوريېز ماتريکس او α_{ij} دې د a_{ij} کوفاکتور وي، نو دی

$$\text{Adjungierte}\quad A=\operatorname{adj}(A)=\begin{pmatrix}\alpha_{11}&\alpha_{21}&\ldots\ldots\alpha_{n1}\\\alpha_{12}&\alpha_{22}&\ldots\ldots\alpha_{n2}\\\ldots\ldots&\ldots\ldots&\ldots\ldots\ldots\\\alpha_{1n}&a_{2n}&\ldots\ldots\alpha_{nn}\end{pmatrix}.$$

د ژوري پاملرنې لاندې دې وي، چې د **A** د **i** -مې ليکې(متې) توکو کوفاکتور د **adj(A)**

د **i** – مې متې (ليکې) توکې دي

بيلګه : د ماتريکس A **لپاره د** A **اديونګېري وشمېرئ**

$$A=\begin{pmatrix}1&2&3\\2&3&2\\3&3&4\end{pmatrix}$$

$$\alpha_{11}=(-1)^{1+1}\cdot\begin{vmatrix}3&2\\3&4\end{vmatrix}=6;\quad \alpha_{12}=(-1)^{1+2}\cdot\begin{vmatrix}2&2\\3&4\end{vmatrix}=-2;\quad \alpha_{13}=(-1)^{1+3}\cdot\begin{vmatrix}2&3\\3&3\end{vmatrix}=-3$$

$$\alpha_{21}=(-1)^{2+1}\cdot\begin{vmatrix}2&3\\3&4\end{vmatrix}=1;\quad \alpha_{22}=(-1)^{2+2}\cdot\begin{vmatrix}1&3\\3&4\end{vmatrix}=-5;\quad \alpha_{23}=(-1)^{2+3}\cdot\begin{vmatrix}1&2\\3&3\end{vmatrix}=3$$

$$\alpha_{31} = (-1)^{3+1} \cdot \begin{vmatrix} 2 & 3 \\ 3 & 2 \end{vmatrix} = -5; \quad \alpha_{32} = (-1)^{3+2} \cdot \begin{vmatrix} 1 & 3 \\ 2 & 2 \end{vmatrix} = 4; \quad \alpha_{33} = (-1)^{3+3} \cdot \begin{vmatrix} 1 & 2 \\ 2 & 3 \end{vmatrix} = -1$$

$$\mathrm{adj}(A) = \begin{pmatrix} 6 & 1 & -5 \\ -2 & -5 & 4 \\ -3 & 3 & -1 \end{pmatrix}$$

Die Inverse einer Matrix A: د یوه ماتریکس په ځېټ یا په ښتماتریکس

ټاکندوی(پېژند یا تعریف): که A او B ځلوری ماتریکسونه وي، د کومو لپاره چې باروړ ولري $A \cdot B = B \cdot A = I$ ، نو **B** د**A** **په ښېټ** بلل کیږي او ددې لپاره لیکو $B = A^{-1}$ (،، B د A په ښټ یا برعکس سره برابره ده،،) .

دا هم باور لري:_ $A = B^{-1}$

Beispiel: بېلګه

$$A = \begin{pmatrix} 1 & 2 \\ 3 & 4 \end{pmatrix}$$

$$A^{-1} = ?$$

$$A \cdot A^{-1} = I$$

$$A^{-1} = \begin{pmatrix} x_1 & x_2 \\ x_3 & x_4 \end{pmatrix}$$

$$\begin{pmatrix} x_1 + 2x_3; x_2 + 2x_4 \\ 3x_1 + 4x_3; 3x_2 + 4x_4 \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} 1 & 0 \\ 0 & 1 \end{pmatrix}$$

169

$$I : x_1 + 2x_3 = 1$$

$$II : 3x_1 + 4x_3 = 0$$

$$-2x_3 = -3 / : (-2)$$
$$x_3 = \frac{3}{2}$$

$$x_1 + \frac{6}{2} = 1 \,|\, -3$$
$$x_1 = -2$$

$$I : x_2 + 2x_4 = 0$$
$$II : 3x_2 + 4x_4 = 1$$

$$-2x_4 = 1 / : (-2)$$
$$x_4 = -\frac{1}{2}$$

$$x_2 + (-1) = 0 / +1$$
$$x_2 = 1$$

$$A^{-1} = \begin{pmatrix} -2 & 1 \\ \frac{3}{2} & -\frac{1}{2} \end{pmatrix}$$

د ادجونګيري کارونې یا استعمال له لارې د په څټجوړونه:

Inversenbildung unter Benutzung der Adjungierten:

$$\det(A) \neq 0 \,; \quad A^{-1} = \frac{1}{\det(A)} \cdot \operatorname{adj}(A)$$

بېلګه ؛ د ماتریکس A لپاره په څټماتریکس وشمېرئ:

$$A = \begin{pmatrix} 1 & 2 & 3 \\ 2 & 3 & 2 \\ 3 & 3 & 4 \end{pmatrix}$$

170

سرليک

$$adj(A)=\begin{pmatrix} 6 & 1 & -5 \\ -2 & -5 & 4 \\ -3 & 3 & -1 \end{pmatrix};$$

det(A)=-7;

$$A^{-1}=\begin{pmatrix} -\frac{6}{7} & -\frac{1}{7} & \frac{5}{7} \\ \frac{2}{7} & \frac{5}{7} & -\frac{4}{7} \\ \frac{3}{7} & -\frac{3}{7} & \frac{1}{7} \end{pmatrix}$$

د ماتريکسونو سره د برابرونسيستمونو اوبيوني يا خلونه:

$$\begin{aligned} 5x+3y-7z&=4 \\ 2x-8y+z&=6 \\ -x+9y+4z&=5 \end{aligned}$$

$$A=\begin{pmatrix} 5 & 3 & -7 \\ 2 & -8 & 1 \\ -1 & 9 & 4 \end{pmatrix};H=\begin{pmatrix} 4 \\ 6 \\ 5 \end{pmatrix};X=\begin{pmatrix} x \\ y \\ z \end{pmatrix}$$

171

$$\mathbf{A \cdot X = H \,/\cdot A^{-1}} \quad \textbf{von} \quad \textbf{links}$$
$$\mathbf{A^{-1} \cdot A \cdot X = A^{-1} \cdot H}$$
$$\mathbf{I \cdot X = A^{-1} \cdot H}$$
$$\mathbf{X = A^{-1} \cdot H}$$

$$\mathbf{X} = \begin{pmatrix} 5 & 3 & -7 \\ 2 & -8 & 1 \\ -1 & 9 & 4 \end{pmatrix}^{-1} \cdot \begin{pmatrix} 4 \\ 6 \\ 5 \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} \frac{879}{302} \\ \frac{53}{302} \\ \frac{239}{151} \end{pmatrix}$$

د کینې لوې د A^{-1} سره ځلکیږي، یانې $\mathbf{A \cdot X = H \,/\cdot A^{-1}}$

د کینې لوې د A^{-1} سره ځلکیږي، یانې $\mathbf{A \cdot X = H \,/\cdot A^{-1}}$

نو لرو

$$\mathbf{A^{-1} \cdot A \cdot X = A^{-1} \cdot H}$$
$$\mathbf{I \cdot X = A^{-1} \cdot H}$$
$$\mathbf{X = A^{-1} \cdot H}$$

$$\mathbf{X} = \begin{pmatrix} 5 & 3 & -7 \\ 2 & -8 & 1 \\ -1 & 9 & 4 \end{pmatrix}^{-1} \cdot \begin{pmatrix} 4 \\ 6 \\ 5 \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} \frac{879}{302} \\ \frac{53}{302} \\ \frac{239}{151} \end{pmatrix}$$

اوبی<u>Lösung</u>: **x = 2,91; y = 0,17; z = 1,58**

172

سرلیک

تمرینبېلگه: لاندې برابرونسیستم په درې ډوله اوبی یا حل کړی

$$\text{I:}\quad 3x - 5y + z = 0$$

$$\text{II}\quad -4x + 5y - z = -3$$

$$\underline{\text{III:}\quad x + y + z = 6}$$

۱) ۱) د د کاوس د له منځه وړلو له لارې

1) 1) Gauß'sches Eliminationsverfahren

۲) ۲) د کرامر قاعدې له لارې

2) 2) Cramer´sche Regel

۳) ۳) د ماتریکس شمېرنې له لارې

3) 3) mittels Matrizenrechnung

Gauß'sches Eliminationsverfahren: *د ګاوس د له منځه وړنې لار یا طریقه*

$$\text{I:}\quad 3x - 5y + z = 0$$

$$\textbf{II:}\quad -4x + 5y - z = -3$$

$$\underline{\mathbf{x = 3}}$$

$$\text{II:}\quad -12 + 5y - z = -3$$

$$\textbf{III:}\quad 3 + y + z = 6$$

$$9 + 6y = 3$$

$$\underline{\mathbf{y = 2;\ z = 1}}$$

Cramer´sche Regel: د ګاوس قاعدې له مخې

$$\text{I:}\quad 3x - 5y + z = 0$$

$$\text{II:}\quad -4x + 5y - z = -3$$

$$\underline{\text{III:}\quad x + y + z = 6}$$

173

$$D = \begin{vmatrix} 3 & -5 & 1 \\ -4 & 5 & -1 \\ 1 & 1 & 1 \end{vmatrix} = -6$$

$$D_x = \begin{vmatrix} 0 & -5 & 1 \\ -3 & 5 & -1 \\ 6 & 1 & 1 \end{vmatrix} = -18$$

$$D_Y = \begin{vmatrix} 3 & 0 & 1 \\ -4 & -3 & -1 \\ 1 & 6 & 1 \end{vmatrix} = -12$$

$$D_Z = \begin{vmatrix} 3 & -5 & 0 \\ -4 & 5 & -3 \\ 1 & 1 & 6 \end{vmatrix} = -6$$

$$x = \frac{D_x}{D} \qquad y = \frac{D_y}{D} \qquad z = \frac{D_z}{D}$$

x= 3; y = 2; z = 1;

mittels Matrizenrechnung:

د ماتریکس شمېرنې په مرسته

I: 3x - 5y +z = 0

II: -4x + 5y –z = -3

III: x + y + z = 6

$$\mathbf{A} = \begin{pmatrix} 3 & -5 & 1 \\ -4 & 5 & -1 \\ 1 & 1 & 1 \end{pmatrix}; \quad \mathbf{H} = \begin{pmatrix} 0 \\ -3 \\ 6 \end{pmatrix}; \quad X = \begin{pmatrix} x \\ y \\ z \end{pmatrix}$$

174

سرلیک

$$\mathbf{X} = \mathbf{A}^{-1} \cdot \mathbf{H}$$

$$\mathbf{X} = \begin{pmatrix} 3 & -5 & 1 \\ -4 & 5 & -1 \\ 1 & 1 & 1 \end{pmatrix}^{-1} \cdot \begin{pmatrix} 0 \\ -3 \\ 6 \end{pmatrix}$$

$$\mathbf{X} = \begin{pmatrix} 3 \\ 2 \\ 1 \end{pmatrix}$$

-

د ښوونې(ثبوت) لارې یا متودونه

یاددونه: دا درس د افغانستان په نصاب کې نه شته،خوما لازم وګڼل چې دلته یې راوړم، ځکه چې په پولسم ټولګي کې زده کوونکي پرې پوهيدي شي.

په شميرپوهنه کې داسي مخ په وړاندې ځو، چې د ځينو نيونو يا فرضيو په فرمولولو سره، غوښتنو يا ښوونو او يا لکه تراوسه د ثبوتولو پرابلم (د ګڼپوهنې جملې په څير) منځ ته راځي، چې دا نيونې او غوښتنې ويناوې دي. په جملو کېد دې ماتماتيکي يا شميرپوهنيزه تړنه بيا ايمپليکيشن يا لاس ته راوړنه ده(مخ ته دې وکتل شي)ياني $A => B$ دا غوښتنه د ريښتيا ارزښت w غوښتنه B کې نغښتې او دا اوبې يا حل B له V او د دې تراوسه اوبی- يا حل شوو جملو لاس ته راځی. د دې لاس ته راوړنو لپاره بيلابيلې لارې شته ، چې په لاندې کې يې څيرو

۸ ۰ ۱ سیده یاسیخه (مستقیمه) ښوونه

په سیده ښوونه (ثبوت) کې سړی له یوې وینا A څخه مخ ته ځي، چې رښتیاارزښت یې څرګند دی او په دې لاس ته راوړنې پسې د B وینا لاس ته راوړي۰

دا وینا B هم رښتیا ده، ځکه چې له یوې رښتیا پریمیسې Prämisse (نیونې یا فرضیې) څخه رښتیا کونکلوزیون Konklusion (لاس ته راوړنه یا نوره هم ښه ښوونه یا ثبوت)(د اینمپلیکیشن ۱ او ۲ لیکه د رښتیاارزښت په جدول کې) له یوې رښتیا پریمیسې څخه د نارښتیا کونکلوزیون لاس ته راوړنې نارښتیا دي (ایمپلیکیشن رښتیا ارزښت ۲ ــم جدول)۰

بیلګه : سیده اوبیونه یا حل:

نیونه V : $x \geq 1$

غوښتنه B : $6x+3 \geq 3x + 6$

اوبی : وینا A ، چې رښتیا ارزښت w یې جوت دی، نیونه یې $x \geq 1$ ده۰ له 3 سره ځل له امله لاس ته راوړنې لرو چې په لاندې ډول دی$3x \geq 3$: د 3 زیاتون له لارې لرو: $3x + 3 \geq 6$ د $3x$ زیاتون له امله لاس ته راځي:

$6x + 3 \geq 3x+6.$

بیلګه:

د یوه ناټیک اوبیونې یا حل کارونه (متود)

د $\frac{a+b}{2} \geq \sqrt{a.b}$ ښوونې دی

د ښوونې وړ وینا څخه لاندې لاس ته راوړنې لرو:

$(a+b)^2 \geq ab$

$a^2+b^2+2ab \geq 4ab$

$$a^2 - 2ab + b^2 \geq 0$$

لاس $$(a-b)^2 \geq 0$$

ته راوړل شوې ویناوې $(a-b)^2 \geq 0$ بې بندیزه رښتیا دي۰ مګر دا د ښوولو وینا یواځې د شرایطو $a \geq 0, b \geq 0$ لاندې باور لري۰ له دې امله که له رښتیا وینا څخه غوښتل شوې یا د ښوولو ویناو ته نه شي راتلی(سیده ښوونه) او په ناسداِه یا غیرمستقیم ه ښوونه یا اوبیونه باندې استعمال شي نو ګټوره به وي، چې په لاندې توګه تر څیړنې لاندې ونیول شي۰

۸ ۰ ۲ ناسیده ښوونه یا - ثبوت:

په ناسیده ښوونه کې له یوه نفي یا نیګیشن یا نه والي څخه مخ ته ځو، چې A « ناغوښتنه» او له دې یوه وینا B لاس ته راوړل کیږي، کومه چې نارښتیا ده۰ وینا یعنې نفیې غوښتنه یا ثبوت هم نارښتیا دی، ځکه چې له یوې نارښتیا نیونې څخه یوه نارښتیا ښوونه یا ثبوت لاس ته راتلی شي(د ایمپلیکیشن څلورمه کرښه).

له یوې رښتیا نیونې څخه د یوې نارښتیا ثبوت لاس ته راوړنه نارښتیا ده۰ (د ثبوت د

رښتیا جدول څخه) که د غوښتنو نفی نارښتیا وي، نو غوښتنه بیا په دې اوبیونې یا حل کې رښتیا ده۰

بیلګه : ناسیده ښوونه یا ثبوت

نیونه V : a , b دې رییل ګڼونه وي او وي دې: $0 \geq b$ $a \geq 0,$

ښوونه یا غوښتنه B :

$$\frac{a+b}{2} \geq \sqrt{ab}$$

اوبیونه : د غوښتنو نفیې ده $$\frac{a+b}{2} \prec \sqrt{a.b}$$

د پورته نابرابرون له څلورې یا مربع کولو له امله لاس ته راوړنه لرو:

$$(a+b)^2/4 < a.b$$

177

دواړه لورې له څلورو سره صربوو، نو لاس ته راځی

$$(a+b)^2 < 4a.b$$

له څلوری وتنې یامربعوتنې څخه لاس ته راځي:

$$a^2+b^2+ 2ab < 4ab$$

په دواړو لورو د 4ab کمونې څخه لاس ته راځي

$$a^2-2ab+b^2 < 0$$

د نابرابرون کینه لور د څلوری ۰ مربع په بڼه لیکل کیدی شي او هیڅکله له صفر څخه نه شي کوچنی کیدی۰ دا په دې مانا، چې $(a+b)^2 < 0$ نارښتیا دی یا غلط دی، نو له دې سره $(a+b) < ab$ نارښتیا دی یانې

$$\frac{a+b}{2} \geq \sqrt{ab}$$

رښتیا دی ۰

۲ – غوښتنه B :د ۲ رېښه یا جذر $\sqrt{2}$ ایرشنل دی

اوبیونه یا حل : د غوښتنې نفیې ده، چې : د ۲ رېښه $\sqrt{2}$ ریشنل ګڼ دی (د ریشنل ګڼونو لپاره دې برخه ۳ وکتل شي)، نو باید بیا دوه ټولریشنل ګڼونه q, p, د q≠0 سره شته وي، چې دا باوري شي: $\sqrt{2} = \frac{p}{q} \Leftrightarrow p^2 = 2q^2$

له دې پورته برابرون سره p^2 یو جوړه((جفت) ګڼ دی۰ نو له دې امله p هم یو جوړه ګڼ دی، ځکه چې یواځې د جوړه ګڼ مربع یا څلوری جوړه کیدی شي $p=2p'$ له مربع یا څلوریځ کولو او پر ځای اینوولو لاس ته راځي:

$$P^2 = 4p'^2$$،

$$2q^2 = 4p'^2$$

$$q^2 = 2p'^2$$

له اخرنی برابرون لاس ته راځي، چې q هم یو څلوری یا مربع ګڼ دی٠ په دې پسې لرو p او q پر۲ ویشونی دی، یانې پرویشپردی نه دی٠ که پرویشپردي ټول ګڼونه p اوq له $\sqrt{2}$

سره شته نه وي، نو دا ډول ټولګڼونه نه شي کیدی، چې شته یا موجود وي٠

۸ ٠ ۳ د پوره ایندکشن له لارې ښوونه

د پوره ایندکشن ثبوت یا حل د هغو غوښتنو لپاره کارول کیږي، چې د یوه ټاکلي ګڼ n0 (صفر باید لږ. د ن د پېښی لاندې ولیکل شي) څخه د ټولو پیدایښتي ګڼونو لپاره باوري کیدی شي٠ یانې دلته نوینه داده، چې یوه وینا د لپاره که باور ولري، نو دا بیا د ټولو پیدایښت ګڼونو لپاره باور ي کیدی شي٠

بیلګه ۱ :

د ټولو $0 \geq n$ لپاره ۲ په توان دn له صفر لوي یا له صفر بسره برابر دي یعنې باور لري: $2^{n} \geq 0$

بیلګه : د ټولو $n \geq 0$ لپاره باور لري $1+3+5+\dots 2n+1) = n^2$

د پوره ایندکشن د ښوونې لپاره د « پوره ایندکشن پرینځیپ بنسټ» مخ ته پروت دی:

که یوه وینا دn= n0 یا(په لاندې، که ن،ج، ته پورته شو،نو صفر په پښه کېلیکل شوی) $n = n_0$ لپاره باور ولري او که د دې وینا د یوه په خوښه پیدایښتي ګڼ n = k لپاره اور لرلو څخه د n = k+1 لپاره باوریوالی ترې لاس ته راشي، نو دا وینا د ټولو پیدایښتي ګڼونو $n \geq n_0$ لپاره ریښتونې ده ٠

په دې پسې په ترتیب د ایندکشن ښوونه په دوه پلونو یا قدمونو سرته رسیږي

۱ - د ایندکشن پیل

179

ښوول کيږي، چې دا وينا د $n \geq n_0$ لپاره باور لري

۲ – د ايندکشن پل

اوس بايد يو ايمپليکيشن يا لاس ته راوړنه وښوول شي. له دې امله د ايندکشن پل يا له برخه پلونو جوړ دئ

۲ الف: د ايندکشن نيونه :

نيول کيږي، چې وينا د $n = k \geq 0$ لپاره باور لي او دا نيونه په V فرمولبند کيږي

يادونه V د نيونې لپاره ځاي پرځاي کيږي يا راوړل کيږي.

۲ ب – د ايندکشن غوښتنه:

غوښتل کيږي، چې دا وينا د $n = k+1$ لپاره باور لري او دا غوښتنه په B فرمولبندي کوو. دا په ګوته کوو، چې B دلته د غوښتنې پرځاي ليکو

۲ ج – د ايندکشن ښوونه :

ښوول کيږي، چې B له A څخه لاس ته راځي: $A \Rightarrow B$

بيلګه ۱ :

۱ – د $n = 0$ لپاره باور لري $2^0 = 1 > 0$

۲ . ۱ . V ته :

$$2^k > k$$

و ۲ . ۲ B ته

$$2^{k+1} > k+1$$

۲ . ۳ له $B \Rightarrow V$: له $2^k > k$ او $1 < 2$ څخه د زياتون له امله لاس ته راځي :

$$2 + 2^k > k + 1$$

او له دې لاس ته راځي: $2.2^k > k+1, 2^{k+1} > k+1$

بيلګه ۲ :

۱ ۰ د $n = 1$ لپاره باور لري $1 = 1° = 1$

و ۲ ۰ ۱ V ته: $1+3+5++\ldots+(2k-1) = k^2$

و ۲ ۰ ۲ B ته:

و ۲ ۰ ۳ B <= V ته: له نيونې څخه د زياتوون 2k+1 زياتونې او له دې د ښي خوا د يوه بينومځلورى(-مربع) په څير انځورونې څخه لاس ته راځي:

$$1+3+5+\ldots+(2k-1)+(2k+1=k^2+2k+1$$

او له دې د ښى خوا انځورونې څخه د بينوم ځلورى(-مربع) لاس ته راځى :

$$1+3+5+\ldots+(2k-1)+(2k+1)= (2k+1)^2$$

يادونه : د V او B پر ځاي کړى شو، چې نيونه او غوښتنه وليکو، ياني مورږ درې څه لرو، چې نيونه غوښتنه او ښوونه ده۰ په هغه ورسره بلد ډول يې ښوونه د يوه پارابلم حل دى، چې ما اوبى يا اوبيونه بللى(اوبي پښتو ده او ښه کره، همدې وي يا لغات ته مناسب خپل د پښتو نوم دى، چې ورسره بلد هم يو، لکه ملګوبى، خړوبى، چې موخه ترې همدا اوبى دى او په نورو ژبو کې هم همداسې دى)

دلته د شميرپوهنې سم اند درس ته د پاى ټکى ږدو، کۀ نور څه مو ښه مخ ته راغله هغه به بيا د ترڼې په ډول ورسره مل کړو۰ ستاسو وړانديزونو ته هم سترګى په لار يم۰

۸ . ۴ تمرینونه

۱ – سیده وښايي

الف) له $a + 1/a = b$ څخه لاس ته راځي $a^3 + 1/a^3 = b^3 - 3b$

ب) د دوه تیرو کونجونو α ، β لپاره صدق کوي

$$\sin(\alpha + \beta) < \sin\alpha + \sin\beta$$

۲ – ناسیده وښايي :

الف) د ټولو x لپاره ، چې وي $0 < x < \infty$ ، صدق کوي

$$(3x - 4) / (2x + 4) > 1$$

ب) $\sqrt{2}$ یو ایریشنل ګڼ دی

۳ – د پوره اندکشن له لارې يې وښايئ

a) $1 + 2 + 3 + \ldots + n = \dfrac{(n+1)\,n}{2}.$

b) $1^2 + 2^2 + 3^2 + \ldots + n^2 = \dfrac{(2n+1)(n+1)\,n}{6}.$

c) $2^0 + 2^1 + 2^2 + \ldots + 2^n = 2^{n+1} - 1.$

ؚ کتورشمیرنه

نځورونه

پیلبیلګه

یوه درنديږ تیګی ته څنګه سړی حرکت ورکولی شي؟ طبعآ کیدی شي چي ورل یی وازمائل شي، مګر دا پوره ستونځی لري او دا لاندیږ طریقه یی ساده ده: د تیګی لاندیږ سړی یوه تخته یا اړم ننبلوي او یا ورلاندیږ کوي، د بل سر نه یی لاندیږ لور ته زور کوي یا لاندیږ لور ته زور په واردوي. تیګه یو څرخونحرکت باندیږ راځي.

ددیږ حالت لپاره د اړم قانون صدق کوي« زور د زوراړم = بار د بار اړم» . که تیکه په پوره اندازه اوږده (او ستابیل) وي، کیدی چي یو ډیر نازورور سړی هم کړی شي، چي خورا درانده بارونه پورته کړي.



خیره ۲۸۶

یا دا حالت د پورته پیلبیلګي سره ټیك ؤښانه څرګند شوی ؟ هیڅ نه پیښیږي، نه څوك په اړم ښکته یا پورته زور ونه ـړي بلکه یا راکښ یا وریوري وهي. ـوږ باید دا پوښتنه نوره هم روښانه کړو ؚ د زورارزښت سره دزورتاثیر لور هم په ـپله لوبه کی ورداخل کړو. ددیږ هدف لپاره وکتور سره شمیرنه کړي.

183



شیره ۲۸۷

تعریف : وکتور د یوه ارزښت او یوه لور سره تعریف دی. تل د یوه غشي په شیر انځوریږي. اوږدوالی د وکتور ارزښت (ګڼ ارزښت) ، په هواکی یی ځای لور او د غشي څوکه د وکتورلور موخه یا هدف ښایي.



شیره ۲۸۸

دوکتورونو لپاره د کارونی ساحی

ګڼونه د مخنخښبی سره کیدی شي د وکتور په حیث واضح شي. په فزیک کی کښول، لکه زورونه، سرعتتونه، لاري کیدی شي د وکتورونو په شیر انځور شي. (د جلالکوټ څخه و

شیره ✓ کښول په وکتور سره په ښنه کیږي

و هسکی مینی ته راښایی، چی دا لار دا دوه ځایونه سره ونخلوي او دا هم راښایي چي څومره اږده ده. وکتور دا را په ګوته کوي، چی ایا څوك له جلاکوټ څخه هسکی مینی ته ځي او که له هسکی مینی څخه جلالکوټ ته)



ځیره ۲۸۹

داچي یو وکتور د خپل پیلټکي او پایټکي سره ورکړ شوی دی، کیدی شي چی دا ټکي هم د هغه په انځورونه کی استعمال شي.

تعریف: هغه وکتور چي له ټکي P و ټکي Q ته لاربښودوي، د $\overrightarrow{PQ}$ سره په نخښنه کیږي.
بل ډول لیګدودونه یی دي: $\overrightarrow{PQ} = \mathbf{a} = \vec{a}$.

په راکښلو سره که ټکی 'P د P ځیره او ټکي 'Q د ټکي Q ځیره وي، نو د $\overrightarrow{PQ}$ اوږدوالی او لورد $\overrightarrow{P'Q'}$ یو بل سره برابر دي. له دې امله دا باید برابر ولیدل شي یا وګڼل شي. یو وکتور له دې امله یو غشی نه دی بلکه ډیر یوبل سره غبرګ او کوګروایننخ غشي دي. له دې امله د ورته ټولګي څخه هم غبریدی شو. (دا دې څما په لمړي د شمیتپوهنی کتاب کي وکتل شي)



خیره ۲۹۰

خیره وکتورو نه د ایکویوالنځتېولګی
په خیر: دوه وکتورونه ټیك هلته سره برابر دي، که هغه همغه ارزښت(اوږدوالی) او همغه لور ولري.

تعریف
د **a** مطلقه ارزښت $a = |\mathbf{a}|$ دی. a
تل یو نامنفي ګڼ دی .
وکتورونه د ارزښت ۱ سره مور یوونوکتورونه یا واحدوکتورونه بولو.
وکتورونه د همغه ارزښت سره مګر د مخامخ لور سره مخامخ یا په ځټ وکتورونه بلل کیږي:

$$|\mathbf{a}| = |-\mathbf{a}| = a$$

$$\overrightarrow{PQ} = \mathbf{a} = -\overrightarrow{QP} = -(-\mathbf{a})$$

یواځنی وکتور د 0 (صفر) ارزښت سره صفروکتور **0** دی :

$$\overrightarrow{AA} = \mathbf{a} \Rightarrow |\overrightarrow{AA}| = |\mathbf{a}| = 0$$



خیره ۲۹۱

دا چې وکتورونه له ټکي وټکي ته لارې روښانه کوي، کیدې شي چې د وکتورونو د توضیح لپاره کواوردینات یا پروت ولاړ سیستمونه (محورونه) هم وکارول شي:

تعریف: وکتورکواردینات د پیل او پای ټکو توپیر یا کمون څخه لاس ته راځي



خيره ۲۹۲

پـه هواره کي : $a = \overrightarrow{PQ} = \begin{pmatrix} x_Q - x_P \\ y_Q - y_P \end{pmatrix}$

پـه هوا کی : $a = \overrightarrow{PQ} = \begin{pmatrix} x_Q - x_P \\ y_Q - y_P \\ z_Q - z_P \end{pmatrix}$

خيره وکتورونه او د هغوي ارزښتونه(اوږدوالی):

$|\mathbf{a}| = |-\mathbf{a}| = 2{,}5\ ;\ |\mathbf{b}| = 2\ ;\ |\mathbf{c}| = 1\ ;\ |\mathbf{v}| = 3$

بيلګي:

وي دې $A(3|9)$ او $B(-2|4)$ پيل-او پايټکي . نو د A او B څخه ټاکلی وکتور کواوردينات په لاندې ډول لاس ته راځي :

$$a = \overrightarrow{OA} = \begin{pmatrix} 3 \\ 9 \end{pmatrix}; \quad b = \overrightarrow{OB} = \begin{pmatrix} -2 \\ 4 \end{pmatrix}$$

$$c = \overrightarrow{AB} = \begin{pmatrix} -2-3 \\ 4-9 \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} -5 \\ -5 \end{pmatrix}$$

$$-c = \overrightarrow{BA} = \begin{pmatrix} 3+2 \\ 9-4 \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} 5 \\ 5 \end{pmatrix}$$



خيره ۲۹۳

جمله: د وکتور ارزښت د پيتاګوراس له جملی څخه لاس ته راځي او دا د يوګونو کواودیناتو له لارې :

پـه هواره کی: $|\mathbf{a}| = \sqrt{a_x^2 + a_y^2}$

ش

په هوا کې: $|\mathbf{a}| = \sqrt{a_x^2 + a_y^2 + a_z^2}$



شیره ۲۹۴

په هوارډکې
وکتورکواوردینات

بیلګې :

$$a = \begin{pmatrix} -3 \\ 4 \end{pmatrix} \Rightarrow |a| = \sqrt{(-3)^2 + 4^2} = \sqrt{25} = 5$$

$$b = \begin{pmatrix} 8 \\ 8 \end{pmatrix} \Rightarrow |b| = \sqrt{8^2 + 8^2} = \sqrt{128} \approx 11{,}31$$

$$c = \begin{pmatrix} 4 \\ -5 \\ 6 \end{pmatrix} \Rightarrow |c| = \sqrt{4^2 + (-5)^2 + 6^2} = \sqrt{77} \approx 8{,}77$$



شیره ۲۹۵

Vektorkoordinaten im Raum

په هواکې
وکتورکواوردینات

وکتورزیاتون او s–ځلوون یا ضربول

پیلبیلګه: یو لامبووهونکی د سین بلې لور ته د سین په سور یا پلنو لامبی، دا په دې مانا چې اوبه روانې دي. سره له دې چې دا تل سیده لامبي ، دا نه شي کولی چې هغه د لمبا ځاي ته مخامخ ځاي ته ولمبیدی شي.د روانو اوبو څخه د ځان سره ووړ کیږي. په ټولیزه –

188

یا عمومي توګه ده یو مائل حرکت وکړ یا مایل یي ولمبل، کومکی چی د ده د لمبا سرعت او د سین سرعت یو په بل زیات شوي دي.

ګرافیکی د وکتورزیاتون داسی صورت نیسي، چی د دواړو سرعتونو وکتورغشي په خپلو پیل ټکو یو په بل ږدي او دا هر یو د یوه غبرګ اړخیز سره یوځایی وصل کوي. د غبرګ اړخیز نیمی د دواړو سرعت وکتورونو زیاتون ، چی له پیل ټکی پیل کیږي انځوروي. یعنی د لامبووهونکي او د اوبو د سرعت زیاتون ، څمور په څیره کی «



څیره ۲۹۶

تعریف: وکتورونو ګرافیکی سره زیاتیږي، که د دوهم وکتور پیلټکی د لمړي وکتور په پاکي کینبول شي یعنی د غشی په سر کینبول شي او داسی ورپسی . دا زیاتون وکتور نو بیا د لمړي وکتور د پیل ټکی د دوهم وکتور یا د ځنځیر اخرني وکتور د څوکی یا غشي سر پورې غزول کیږي.





خیره ۲۹۷ الف





خیره ۲۹۷ ب

د وکتورمساواتو حل څخه د یوه پیلوکتور یا د یوه مخامخ وکتور له زیاتون څخه کیدی شي د وکتورکمون روښانه کړی شي:

$$a + b = c \Leftrightarrow a = c - b = c + (-b)$$

bzw. $b = c - a$





خیره ۲۹۸



خیره ۲۹۹

د ځیرونو څخه دا لاندې هم لاس ته راتلی شي

جمله : د زیاتونوکتور کواودینات همداسی کمونوکتور د پیلوکتور د زیاتون همداسی کوم څخه لاس ته راځي.

$$a + b = \begin{pmatrix} a_x \\ a_y \end{pmatrix} + \begin{pmatrix} b_x \\ b_y \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} a_x + b_x \\ a_y + b_y \end{pmatrix}$$ په هوارۍ

$$a + b = \begin{pmatrix} a_x \\ a_y \\ a_z \end{pmatrix} + \begin{pmatrix} b_x \\ b_y \\ b_z \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} a_x + b_x \\ a_y + b_y \\ a_z + b_z \end{pmatrix}$$ په فضا کې

بېلګه

1. $a = \begin{pmatrix} 3 \\ 4 \end{pmatrix} \quad b = \begin{pmatrix} 12 \\ -5 \end{pmatrix}; \quad |a| = 5 \quad |b| = 13$

$$\Rightarrow a + b = \begin{pmatrix} 3 + 12 \\ 4 \ \ - 5 \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} 15 \\ -1 \end{pmatrix}$$

$$a - b = \begin{pmatrix} 3 - 12 \\ 4 \ \ + 5 \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} -9 \\ 9 \end{pmatrix}$$

$$b - a = \begin{pmatrix} 12 - 3 \\ -5 - 4 \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} 9 \\ -9 \end{pmatrix}$$

$$|a - b| = |b - a| \approx 12{,}73; \quad |a + b| \approx 15{,}03$$



Addition und Subtraktion von Vektoren

$$2.\quad a=\begin{pmatrix}4\\3\\2\end{pmatrix};\quad b=\begin{pmatrix}-2\\0\\5\end{pmatrix};\quad c=\begin{pmatrix}7\\8\\-9\end{pmatrix}$$

$$\Rightarrow a+b=\begin{pmatrix}4-2\\3+0\\2+5\end{pmatrix}=\begin{pmatrix}2\\3\\7\end{pmatrix}$$

$$a-c=\begin{pmatrix}4-7\\3-8\\2+9\end{pmatrix}=\begin{pmatrix}-3\\-5\\11\end{pmatrix}$$

$$a-b+c=\begin{pmatrix}4+2+7\\3-0+8\\2-5-9\end{pmatrix}=\begin{pmatrix}13\\11\\-12\end{pmatrix}$$

$$a+a=\begin{pmatrix}4+4\\3+3\\2+2\end{pmatrix}=\begin{pmatrix}8\\6\\4\end{pmatrix}=2\cdot a$$

دا وروستنی بیلګه د وکتورونو د ځلولو لپاره ده چې له ګڼونو سره ځل شوي (s– ځلون یا · ضربونه) یعنی د سکالار سره ځلونه :

تعریف : وي دې s یو ریل ګڼ (سکالار هم نومیږي) **a** یو وکتور. نو s. **a** = **a** .s هغه وکتور لاس ته راکوي ، چې همغه لور ولري لکه **a** او s –واره اوږدوالی ولري. وکتور **a** له s سره ځلیږي، که د وکتور هر کومپوننت د s سره ځل شي:

په هواکې $s\cdot a=\begin{pmatrix}s\cdot a_x\\s\cdot a_y\\s\cdot a_z\end{pmatrix}$ ، په هوارکې $s\cdot a=\begin{pmatrix}s\cdot a_x\\s\cdot a_y\end{pmatrix}$

$$a = \begin{pmatrix} 5 \\ 7 \\ 9 \end{pmatrix}; \quad s_1 = 4; \quad s_2 = -0{,}5$$

$$\Rightarrow s_1 \cdot a = \begin{pmatrix} 4 \cdot 5 \\ 4 \cdot 7 \\ 4 \cdot 9 \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} 20 \\ 28 \\ 36 \end{pmatrix}; \quad s_2 \cdot a = \begin{pmatrix} -0{,}5 \cdot 5 \\ -0{,}5 \cdot 7 \\ -0{,}5 \cdot 9 \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} -2{,}5 \\ -3{,}5 \\ -4{,}5 \end{pmatrix}$$

هندسي د يوه وکتور ځلونه د يوه رييلګڼ سره د هغه وکتور منځنی غزونه ده د ځلوونی يا فاکتور s په اندازه. د وکتور پيلټکی د کربښمنځ يا غزونمنځ دی.
دلته د $|s| > 1$ سره وکتور اوږدېږي يا غزېږي» او د $|s| < 1$ سره وکتور لنډېږي.
د $|s| = 1$ لپاره د وکتور ارزښت تغير نه خوري. که $s < 0$ وي، نو د وکتور لور راپه څټ کيږي يا راګرځي يا برعکس کيږي.



خيره ۳۰۱: د وکتورa ځلونه د يوه رئيل ګڼ s سره.

که $s = 0$ وي ، نو $s.\mathbf{a}$ صفر وکتور $\mathbf{0}$ دی .

جمله :په ټوله توګه يا مجموعه کی د سکالار سره د وکتور ځلونو لپاره ل اندې شمير قاعدې باور لري:

$$|s.\,\mathbf{a}| = |s|.\,|\mathbf{a}|$$
$$(s_1 + s_2).\mathbf{a} = s_1.\,\mathbf{a} + s_2.\,\mathbf{a}$$
$$s.(\mathbf{a} + \mathbf{b}) = s.\,\mathbf{a} + s.\,\mathbf{b}$$

بیلګي:

$$\mathbf{1.}\quad \left|-3\cdot\begin{pmatrix}3\\4\\5\end{pmatrix}\right| = \begin{vmatrix}-9\\-12\\-15\end{vmatrix} \approx 21{,}21$$

$$\left|-3\cdot\begin{pmatrix}3\\4\\5\end{pmatrix}\right| = |-3|\cdot\left|\begin{pmatrix}3\\4\\5\end{pmatrix}\right| = 3\cdot\sqrt{50}\approx 21{,}21$$

$$\mathbf{2.}\quad (4-6)\begin{pmatrix}-3\\7\end{pmatrix} = (-2)\begin{pmatrix}-3\\7\end{pmatrix} = \begin{pmatrix}6\\-14\end{pmatrix}$$

$$(4-6)\cdot\begin{pmatrix}-3\\7\end{pmatrix} = 4\cdot\begin{pmatrix}-3\\7\end{pmatrix} - 6\cdot\begin{pmatrix}-3\\7\end{pmatrix} = \begin{pmatrix}-12\\28\end{pmatrix} - \begin{pmatrix}-18\\42\end{pmatrix} = \begin{pmatrix}6\\-14\end{pmatrix}$$

$$\mathbf{3.}\quad 3\cdot\left[\begin{pmatrix}5\\-3\\11\end{pmatrix} - \begin{pmatrix}-2\\6\\8\end{pmatrix}\right] = 3\begin{pmatrix}7\\-9\\3\end{pmatrix} = \begin{pmatrix}21\\-27\\9\end{pmatrix}$$

$$3\cdot\left[\begin{pmatrix}5\\-3\\11\end{pmatrix} - \begin{pmatrix}-2\\6\\8\end{pmatrix}\right] = 3\cdot\begin{pmatrix}5\\-3\\11\end{pmatrix} - 3\cdot\begin{pmatrix}-2\\6\\8\end{pmatrix} = \begin{pmatrix}15\\-9\\33\end{pmatrix} - \begin{pmatrix}-6\\18\\24\end{pmatrix} = \begin{pmatrix}21\\-27\\9\end{pmatrix}$$

که یو وکتور د بل وکتور زیاتواره په څیر انځور کړی شي، نو دواړه وکتورونه لاینې بلواك بلل کیږي، په غیر له دې لاین خپلواك بلل کیږي.
ټیك په لاندې توګه افده کیږي:

> **تعریف:** دوه وکتورونه **a** او **b** لاینې بلواك دي، که چیرې (یواځنی ټاکلی) ریيلګڼ s (سکالار) موجود وي د کوم لپاره چی **s.a = b** باور ولري.
> دا وکتورونه لاینخپلواك دی، که انځورونه **s.a = b** د هیڅکوم ریيل ګڼ s لپاره ممکنه نه وي.

په هواره (R^2) کی تل دري وکتورونه لائنې بلواك دي. په هوا (R^3) کی تل ۴ وکتورونه لاینبلواك دي. په هواره زیات تر زیاته ۲ او په هوا کی زیات تر زیات

یادونه: لاینبلواک که لاینیز بلواک وبلل شي، نو ښه به وي یا کرښيز بلواک (خطي تابع)..

194

دري وکتورونه لاينيخپلواك كيدى شي.



ثيره ۳۰۲

لايني بلواك وکتورونه	لايني خپلواك وکتورونه د بيلگی پو توگه
$\{a, e\}$	$\{a, b\}$
$\{a, b, c\}$	$\{b, c\}$
$\{a, c, d\}$	$\{e, d\}$

بيلگي:

۱ – وکتورونه $a = \begin{pmatrix} -3 \\ 6 \\ 11 \end{pmatrix}$ او $b = \begin{pmatrix} 6 \\ -12 \\ -22 \end{pmatrix}$ لايني بلواك دي ، ځكه چی

$$s.\begin{pmatrix} -3 \\ 6 \\ 11 \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} 6 \\ -12 \\ -22 \end{pmatrix} \Leftrightarrow \begin{matrix} -3.s = 6 \\ 6.s = -12 \\ 11.s = -22 \end{matrix} \Leftrightarrow \begin{matrix} s = -2 \\ s = -2 \\ s = -2 \end{matrix}$$

۲ – په ځېږ يا برعکس، وکتورونه $a = \begin{pmatrix} -4 \\ 6 \\ 8 \end{pmatrix}$ او $b = \begin{pmatrix} 10 \\ 15 \\ 20 \end{pmatrix}$ لاينيخپلواك دی، ځكه چی :

$$s.\begin{pmatrix} -4 \\ 6 \\ 8 \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} 10 \\ 15 \\ 20 \end{pmatrix} \Leftrightarrow \begin{matrix} -4.s = 10 \\ 6.s = 15 \\ 8.s = 20 \end{matrix} \Leftrightarrow \begin{matrix} s = -2,5 \\ s = 2,5 \\ s = 2,5 \end{matrix}$$

گورو، چی دلته سره گډ يا مساوي s نه شي پيداكيدى.

د وکتورونو لاینې خپلواکوالي او لاینې بلواکوالی په هواره او هوا کې د وکتورونو انځورونو لپاره په کارول کیدي شي:
لکه څنګه چې ټکی په کواوردیناتو کی تعریفیږي چې خپل واټن له محور څخه بیانوي، نو همداسی کیدی شي چې وکتورونه ، ځانونه، په خوښه داسی وکتورونو روښانه یا بیان کړي، چې ځغاستلور یې یو ددې کواوردیناتو محور وي..

تعریف:

وکتورونه : $i=\begin{pmatrix}1\\0\end{pmatrix}$ او $j=\begin{pmatrix}0\\1\end{pmatrix}$ په هواره کې، همداسی

وکتورونه $i=\begin{pmatrix}1\\0\\0\end{pmatrix}$ او $j=\begin{pmatrix}0\\1\\0\end{pmatrix}$ په هوا کې او $k=\begin{pmatrix}0\\0\\1\end{pmatrix}$

بنسټ وکتورونه بلل کیږي. دا مثبتمحور لو، په ګوته کوي او ددې لپاره باور لري:

$$|\mathbf{i}| = |\mathbf{j}| = |\mathbf{k}| = 1$$

هر وکتور کیدی چې په هواره کی له i او j او په هوا کې د i , j او k وکتورونو په نامه لاینې کمبیناشن په څیر د بنسټ وکتورونو څخه انځور کړی شي.



ثیره ۳۰۳

بیلګې:

$$a=\begin{pmatrix}4\\-3\end{pmatrix}=4\cdot\begin{pmatrix}1\\0\end{pmatrix}-3\cdot\begin{pmatrix}0\\1\end{pmatrix}=4\cdot i-3\cdot j=4\cdot i+(-3)\cdot j$$

$$b=\begin{pmatrix}-3\\11\\6\end{pmatrix}=-3\cdot\begin{pmatrix}1\\0\\0\end{pmatrix}+11\cdot\begin{pmatrix}0\\1\\0\end{pmatrix}+6\cdot\begin{pmatrix}0\\0\\1\end{pmatrix}=-3i+11j+6k$$

په پای کی یو نظر په الجبري جوړښت، چې وکتورونه یې د زیاتون او کمون په بنسټ او د رییلګڼونو سره ځلونی له لارې لري:

د ټولو وکتورونو ډیری V په هواره کی (همدا ډول په هوا کی) د زیاتون په نسبت یو زیاتون کموتاتیو ګروپ جوړوي (د ګروپ تعریف وروسته)، ځکه چې لرو :

اول – $a+b \in V$ د ټولو b, a لپاره ، چې له V وي رابندیدنه

دوم – $(a+b)+c = a+(b+c)$ د ټولو c, b, a لپاره، چې له V وي اسوشیاتیو قانون

دریم – $0+a = a+0$ صفر وکتور 0 ناپییلی توکی دی

څلورم – $a+(-a) = (-a)+a = 0$ هر وکتور ته یو په څټ وکتور یعنی مخامخ وکتور موجود دی

پنځم – $a+b = b+a$ د ټولو a, b لپاره، چې له V وي. کموتاتیو قانون

برسیره پر دې د ځلوونی لپاره د یوه ریل ګڼ سره باور لري:

شپږم – $s.a \in V$ د ټولو a لپاره ، چې له V وي

اووم – $1.a = a$ د ټولو a لپاره، چې له V وي

اتم – $(m+n).a = m.a + na$ د ټولو رییلګڼون m او n لپاره او هر وکتور a لپاره ، چې له V وي.

نهم – $m.(a+b) = m.a + n.b$ د ټولو وکتورونو a او b لپاره چې له V وي او هر رییل ګڼ m لپاره.

په ټولګیزه توګه یو داسې جوړښتخویونه د وکتورهوایا · فضا تر نامه یادیږي.

197

سکالار ځل

وکتورونهٔ لکه چی ومو لیدل٬کیدی شي چی سره زیات شي او یا د یوه رییلګڼ سره ځل شي . کیدی شي، چی وکتورونه یو له بل سره هم ځل کړی شي؟
دا حتی په دوه توپیریدونکو ډولونو ممکن دی . یو واریانت یو د یوې لوي په توګه، بیرته یو وکتورهوا جوړوي (د مخه لوستل شوی دی)، بل یی د یوې لوي په توګه سکالار لاس ته راکوي، چی دا یواځي ارزښت لرې او لور نه لري.

پیلبیلګه :
په پخوا وختونو کی د سکرو د کانو واګونونه په لاس راکښل کیده. دلته دا پوښتنه رامنځ ته کیږي، چی ولی کارګر واګون مخته راکښوده او په همدې توګه ټیلواهه، ددې لپاره چی موټر سم پورته کړي؟



خیره ۳۰۴

ددې پوښتنی سره موږ د دوه وکتوري لویو سره سر او کا رلرو: زور او لار، چی د هغو ځل په فزیك کی «کار» بلل کیږي. هغه زور چی واګون په حرکت کی راولی، باید د واګون په لور واچول شي یا د واګون په لور تاثیر وکړي. یو په پورته لور اچولی زور کړی شي چی واګون پورته کړي. هر مایل تاثیر کوونکی زور کیدی شي د وکتور زیاتون قانون له لارې په یوه واګون سره غبرګ او بل په دې ولاړ زور ټوټه کړي یا تجزیه کړي. یواځي پروت زور واګون د مخ لور ته

198

په حرکت راولي. په دې توګه واردونکی زور او مؤثر زور په ټولیزه توګه همغه یو زور نه دی. دا د دې پوښتنې ځواب هم دې، چې ولي کارګر د مخ لور ته تکیه وهي.: هغه رسی چی د هغی له لارې زور اچول کیږي، نزدې ځمکې سره غبرګه ځغلي (= لار) ، (نزدې د متې ټول زور کیدی شي مؤثر واقع شي. هر څومره چی کونج د ځمکې او رسی ترمنځ مایل وي، همغومره زیات زور بی تاثیره پاتي کیږي.

دا په کار اچولی زور ، په دوه یو په بل ولاړو کمپوننتو (زورونو) ټوټه کیدل یو ولاړکونجیز دریګوډی جوړوي، دا لار سره غبرګ زور د $F.\cos\alpha$ په ښیر لاس ته راځي . کار $W = F.s.\cos\alpha$ پخپله په برخلاف د جوړښتلوی زور او لار – لور نه لري، بلکه یواځی ارزښت لري:
دا یو سکالار دی.



ښیره ۳۰۵

تعریف:

د دوه وکتورونو **a** او **b** یو **a . b** سکالار ځل لاندي(ویل کیږي **a** ځل **b**) یو یواځنی ریل ګڼ پوهیدل کیږی ،

$$\mathbf{a}.\mathbf{b} = |\mathbf{a}||\mathbf{b}|.\cos\alpha = a.b.\cos\alpha$$

دلته کونج α د **a** او **b** وکتورونو ترمنځ کونج دی .

هندسي سکالار ځل د یوه ولاړکونجیز هوارمتن دی یا هواره ده د اړخونو a او $b.\cos\alpha$ سره (د **b** پریوستون په **a**). داسی یوه هواره هلته موجود ده، که له دې وکتورونو هیڅ یو هم د صفر اوږدوالی ونه لري او یا $\cos\alpha \neq 0$ ، یعني $\alpha \neq 90°$ ده.

د **b** ولاړ پریوستون په **a** کله کله په $b_a = b.\cos\alpha$ سره ښول کیږي:

$$\mathbf{a.b} = a.b_a$$



شیره ۳۰۶

جمله: د دوه وکتورونو $\mathbf{a} \neq 0$ او $\mathbf{b} \neq 0$ سکالار ځل هلته او هلته صفر دی، کله چې دواړه یو په بل ولاړ وي:

$$\mathbf{a . b = 0 \iff a \perp b}$$

بیلګه:

د یوه ولاړکونجیز کواوردینات سیستم (Orthono_rmalbasis اورتونورمالبنسټ) یو په بل نیغ ولا ړ دي. له دې امله له دوه مختلفو وکتورونو ځل صفر دی او د یوه بنسټوکتور سکالار ځل د ځان سره تل ۱ دی :

$$\mathbf{i.i = j.j = k.k = 1 \quad , \quad i.j = j.k = k.i = 0}$$

د د زیاتون څخه په بل ډول، د وکتورډیری نسبت و سکالار ځل ته تړلی یا رابند نه دی . د سکالار ځل د په خوښه وکتورونو ځل د هغه ډیري څخه راوباسی، چی عملیه په کی اجرا کیږي، دا په دې مان چی دا نتیجه بیرته وکتور نه دی یعنی د وکتو په ډیري کی هم نه دی پروت. دلته اسوشیاتیو قانون هم باور نه لري:

$$\mathbf{a}.(\mathbf{b}.\mathbf{c}) = \mathbf{a}.|\mathbf{b}|.|\mathbf{c}| \cos(\mathbf{b}.\mathbf{c})$$

د $\mathbf{a}$ یو زیتځله دی او په څپ : $(\mathbf{a}.\mathbf{b}).\mathbf{c}= |\mathbf{a}|.|\mathbf{b}|.\cos(\mathbf{a}.\mathbf{b}).\mathbf{c}$ د $\mathbf{c}$ یو زیاتځل دی.

سره له دې هم باورلري:

سکالار ځل کموتاتیو دی :	$\mathbf{a}.\mathbf{b}= \mathbf{b}.\mathbf{a}$
او وکتور زیاتونه دیستربیوتیو دی.	$\mathbf{a}.(\mathbf{b}+\mathbf{c}) = \mathbf{a}.\mathbf{b}+\mathbf{a}.\mathbf{c}$

خیره ۳۰۷



Das Distributivgesetz $a \cdot (b + c) = a \cdot b + a \cdot c$ دستوبیوتیو قانون :

کموتاتیو قانون په کمپوننتوانځورونو له لارې او بنستې وکتورونو له لارې ساده ښوول یا ثابت کیدی شي. د بیلګي په توګه په هواره کی :

$$a \cdot b = (a_x \cdot i + a_y \cdot j) \cdot (b_x \cdot i + b_y \cdot j)$$
$$a \cdot b = a_x\, i \cdot b_x\, i + a_y\, j \cdot b_x\, i + a_x\, i \cdot b_y\, j + a_y\, j \cdot b_y\, j$$
$$a \cdot b = a_x\, b_x\, i \cdot i + a_y\, b_x\, j \cdot i + a_x\, b_y\, i \cdot j + a_y\, b_y\, j \cdot j$$
$$a \cdot b = a_x\, b_x \cdot 1 + a_y\, b_x \cdot 0 + a_x\, b_y \cdot 0 + a_y\, b_y \cdot 1$$
$$a \cdot b = a_x\, b_x + a_y\, b_y$$
$$a \cdot b = b_x\, a_x + b_y\, a_y = b \cdot a$$

په ورته ډول دا د دري او زيات کمپوننتوکتورنو لپاره هم ښوول کيدي شي:

تعريف : د سکالار ځل د کمپوننت انځورونی لپاره باور لري:

$$a \cdot b = \begin{pmatrix} a_x \\ a_y \end{pmatrix} \begin{pmatrix} a_y \\ b_y \end{pmatrix} = a_x\, a_y + b_x\, b_y \quad \text{bzw.} \quad a \cdot b = \begin{pmatrix} a_x \\ a_y \\ a_z \end{pmatrix} \begin{pmatrix} b_x \\ b_y \\ b_z \end{pmatrix} = a_x\, b_x + a_y\, b_y + a_z\, b_z.$$

همداسی

د **a** او **b** ترمنځ کونج په لان دي ډول ټاکل کيږي:

$$\cos \alpha = \frac{a \cdot b}{|a| \cdot |b|}.$$

د

ردوه وکتورونو ترمنځ رابند کونج α شميرنه د تير مخ مساواتو څخه لاس ته راځي

بيلګي:

1. $a = \begin{pmatrix} -3 \\ 5 \end{pmatrix}; \quad b = \begin{pmatrix} 10 \\ 6 \end{pmatrix} \Rightarrow a \cdot b = (-3) \cdot 10 + 5 \cdot 6 = 0$

   also auch $\cos \alpha = \dfrac{0}{\sqrt{(9+25)} \cdot \sqrt{(100+36)}} = 0 \Rightarrow \alpha = 90°$

2. $a = \begin{pmatrix} 9 \\ 3 \end{pmatrix}; \quad b = \begin{pmatrix} 2 \\ -5 \end{pmatrix} \Rightarrow |a| = a = \sqrt{81+9} = \sqrt{90}; \quad |b| = b = \sqrt{4+25} = \sqrt{29}$

   $a \cdot b = 9 \cdot 2 + 3 \cdot (-5) = 18 - 15 = 3 \Rightarrow \cos \alpha = \dfrac{3}{\sqrt{90} \cdot \sqrt{29}} \approx 0{,}05872 \Rightarrow \alpha \approx 86{,}63°$

وکتورځل

پیبیلګه:
که چیرې په یوه سوري جام کې اوبه واچوی او بیا سوری خلاص کړی او یا که چیرې تاسو یو لاسمینځي یا لمباڼه ډک کړی وي، نو که چیرې اوبه بندی راوباسی اوبه په ښیلوریز څرخون ډوله حرکت له سوري وځي .
دا داوبو تویدل د دروند ورن په ذریعه منځ ته راځي ، په ښي لور څرخیدنه اوبه د کوریولیسزور Corioliskraft له لارې منځ ته راځي. دا د کشولو زور په حرکت کوونکي سیستم کی باید وکتل شي یا تر نظر لاندې وي، او دا د ځمکی په ځانڅرخون له لارې کتل کیدیشي.

د دوه وکتوري لویو یو بل باندې تاثیر له امله (حرکت یا خوزیدنه د دروندزور په بنسټ او د ځمکی څرخون له امله خوزیدنه یا حرکت) یوه بله لویه ، چیدا هم وکتوري لویه ده منځ ته راځي. د دریواړه، د لور له امله ، په یوائنی ګډاړیکو کی سره پرتی دي، او او د دریمی ارزښت کیدی شي د نورو دوهو ارزښتونو لاس ته راوړو. په ټولیزه توګه باور لري:

تعریف :
د وکتورځل $\mathbf{a} \times \mathbf{b}$ لاندې ($\mathbf{a}$ اتیران $\mathbf{b}$) یو وکتور پوهیږو، چی لاندې خویونه ولري
اول . دا وکتوردریګوني $\mathbf{a,b,c}$ په لړپیرلپسی یو ښی سیستم جوړوي
دوم. وکتور $\mathbf{c}$ په وکتورونو $\mathbf{a}$ او $\mathbf{b}$ نیغ ولاړدی، یعنی په هغی هواره هم چی د دوه وکتورونه په کی پراته دي.

203

دریم. د وکتور **c** ارزښت د **a** او **b** څخه جوړ غبرګ اړخیز سره مساوي دی

$$|\mathbf{a}\times\mathbf{b}| = |\mathbf{a}|.|\mathbf{b}| \;.\; \sin(\mathbf{a};\mathbf{b}) = a.b.\sin\alpha$$



خیره ۳۰۸ : یو ښی سیستم
کیدی شي، چی د پیچیمیخ له
لارې وښوول شي:
که پیچیمیخ له **a** و **b** ته وڅرخول
شي، نو میخ د **c** په لور خوزي یا
حرکت کوي



خیره ۳۰۹

خیره ۳۰۹ : وکتور ځل او هندسي
اهمیت یی

پس که د وکتور وکتور ځل صفر وکتور وي ، نو یا یو له دې دواړو وکتورونو صفروکتور دی او یا دواړه سره غبرګ پراته دي(دا په دې مانا ، چی $\alpha = 0$ او یا $\alpha = 180°$)

جمله: وکتور **c** د دیترمینانت په مرسته د وکتورونو **a** او **b** د کمپوننتو له لارې لاس ته راوړ کیدي شي

